# بانک

د افغانستان بانک میاشتنۍ

یوولسم کال، یوسلواته ویشمته گڼه د ۱۳۹۶ کال د سلواغې میاشت

د افغانستان بانک

## قانونمند ساختن معاملات مالی، زمینه معاملات شفاف را فراهم می سازد






**د افغانستان بانک خبرتیا!**

د افغانستان بانک د قانون د دري دېرشمې مادې مطابق د افغانستان رایجې پیسې او پولي واحد افغانۍ دي، له همدې امله د ټولو افغانانو، دولتي او خصوصي ادارو او مؤسسو څخه غوښتل کیږي څو په قرار دادونو، نورو معاملو او په اقتصادي راکړو او ورکړو کې له افغانیو کار واخلي، څکه چې افغانۍ په سیمه کې یوه با ثباته پیسه ده چې د اقتصادي برنامو په ثبات کې ګټوره تمامیږي.

## بانک

صاحب امتیاز: د افغانستان بانک

هیئت تحریر: ایمل هاشور، داکتر جهانتاب ولیزار و اقبال صافی

سردبیر: شفیق الله بارز

مدیر مسئول: یما عفیف

گزارشگران: حمیدالله فیضی و عبدالحفیظ شاهین

دیزاین: خالد احمد فیضی

فوتوژورنالیست: زیرک ملیا

مترجمان: عین الله عیان و مسعود ودان

مسئول چاپ و توزیع: تمیم احمد صمیمی



آدرس: آمریت اسناد و ارتباط، د افغانستان بانک

تیلفون: ۰۰۹۳۰۲۰۲۱۰۴۷۶۱

فکس: ۰۰۹۳۰۲۰۲۱۰۰۳۰۵

پُست الکترونیکی: magazine@dab.gov.af

صفحهٔ الکترونیکی: www.dab.gov.af



شمارهٔ ثبت: ۶۵۸



www.facebook.com/AFGCentralbank

twitter.com/AFGCentralbank

Da Afghanistan Bank-Youtube

Da Afghanistan Bank-Google+


## د دې ګڼې مطالب


قانونمند ساختن معاملات مالی، زمینه معاملات شفاف را فراهم...

توسعهٔ نظام بانکی و ایجاد زمینه های شغلی

افغانستان ورځ تر بلې خپلو اقتصادي هیلو ته نږدې کیږي

په نوي نظام کې د بانکونو کړنو ته ځغلنده کتنه

تاپی؛ منبع خوب عایداتی برای آینده افغانستان

بریښنایي بانکوالی او د هغې موخې

مختصری در مورد اقتصاد افغانستان و کشورهای همسایه طی سال...

افغانستان دولت په مالي نظام کې د اصلاحاتو په موخه مرستې ...

د افغانستان بانک، شریعه بورډ غونډه جوړه شوه

د افغانستان بانک، وړو مالي مؤسساتو ته د پور ورکونې په برخه...

دیدار هیئت رهبری د افغانستان بانک از آمریت زون جنوب غرب

د افغانستان بانک د مالي او محاسبې عمومي آمریت د سي بي اس..

برنامه آموزشی تفتیش داخلی برای کارمندان د افغانستان بانک ...

د افغانستان بانک د زونونو د آمریتونو د کړنو او ننګونو د ارزولو...

د مالي ادارو د خطرونو بېلابېل ډولونه

راغوړېدلي اقتصادونه

مختصری به اقتصاد جهان و افغانستان

چگونگی طراحی بازار حامی فقرا و نقش آن در فقرزدایی

آشنایی با تعدادی از سازمان ها و بانک های بین المللی

څه ډول، پیسې د سپما لپاره مدیریت کړو؟



**یاد آوری:** به غیر از سرمقاله که دیدگاه رسمی "مجله بانک" است، مسئولیت مضامین و مقالات دیگر به نویسندگان آن بر می گردد، همچنان استفاده از مقالات و تصاویر مجله با ذکر مأخذ مجاز است.



## قانونمند ساختن معاملات مالی، زمینه معاملات شفاف را فراهم می سازد

نظارت، کنترول و استحکام بیشتر نظام مالی کشور را د افغانستان بانک منحیث بانک مرکزی افغانستان بدوش دارد. قانونمند ساختن این نظام نه تنها سبب اعتماد بیشتر مردم به نظام مالی می گردد، بلکه باعث تغییر سیستم کهنه و عقب ماندۀ به سیستم و نظام عصری و مُدرن گردیده و زمینه معاملات و انتقالات شفاف را فراهم می سازد.

با در نظرداشت سیستم اقتصاد بازار ممانعتی بر انتقال ( خروج و دخول) اسعار وجود ندارد، اما باید خاطر نشان ساخت که این امر باید در چارچوب قوانین و مقرره های نافذه کشور صورت گیرد، زیرا این راهکار زمینه سوء استفاده را برای اقتصاد مافیایی و سیاه از طریق تطهیر پول و تمویل تروریزم که یکی از معضله های جدی به شمار میرود، فراهم خواهد ساخت. د افغانستان بانک برای اینکه نگرانی های موجود در این زمینه را رفع ساخته باشد، تلاش می ورزد تا راهکار هایی را روی دست گیرد که سبب قانونمند ساختن و استحکام هر چه بیشتر نظام مالی کشور شود.

وضع محدودیت در جلوگیری از تطهیر پول و تمویل تروریزم یک امر حتمی است و راه را بروی اقتصاد مشروع که منتج بر رشد اقتصادی، ثبات قیم و استحکام سکتور مالی می شود، باز خواهد کرد.

معاملات و انتقالات قانونی پول از طریق نظام بانکی و مالی برعلاوۀ موضوعات فوق، سبب ایجاد چشمه های جدید و شفاف عایداتی دولت می شود و روند مؤثر، شفاف، سریع، مطمئن و امن تادیات را بوجود آورده و بدون شک نظام مالی افغانستان را در پله های بلند توسعه و انکشاف قرار خواهد داد. ▣

# توسعهٔ نظام بانکی و ایجاد زمینه های شغلی

بانکداری یکی از سکتور های مهم اقتصادی در پیشرفت و انکشاف یک کشور محسوب شده و یکی از اهداف مهم آن زمینه سازی برای سرمایه گذاری های داخلی و شغل آفرینی می باشد.

بانکها منحیث وساطت کننده گان مالی با جمعآوری پول های راکد مردم در حساب های پس انداز، جاری و میعادی و اعطای آن به شکل قرضه های کوچک، متوسط و بزرگ میتوانند به شکل مستقیم و غیر مستقیم نقش خود را در ایجاد تصدی های کوچک و متوسط و سرمایه گذاری های داخلی ایفاء نموده که به تبع آن زمینه کار برای نیروی کار جوان فراهم شده که در پی آن رفاه اجتماعی و رشد اقتصادی به همراه خواهد بود.

نظام بانکی افغانستان به طور مستقیم زمینه کار را برای هزاران نفر در داخل بانک های کشور مساعد ساخته است و همچنان به طور غیر مستقیم با اجراء و اعطای قروض به متشبثین کوچک و متوسط سکتور های مختلف، زمینه را برای سرمایه گذاری فراهم نموده است که در سکتور های چون صنعت، زراعت، خدمات، مخابرات، رسانه ها، رهنی و تعمیراتی و سایر بخش ها فُرصت های شغلی زیادی بمیان آمده است که فیصدی توزیع سکتوری قروض از قراه ماه قوس ۱۳۹۵ در جدول ذیل ارائه گردیده است.

| سکتور | فیصدی از قرار مجموع قروض |
|---|---|
| قروض رهنی و تعمیراتی | ۲.۹۲ |
| **سایر قروض تجارتی** | |
| زراعت | ۰.۱۲ |
| مالداری و فارم | ۰.۰۶ |
| تولیدات فلزی، چرمی، پلاستیکی، لاستیکی، چوبی و کاغذی | ۳.۴۷ |
| تولیدات و صنایع ماشینی | ۳.۷۴ |
| سمنت، وسایل و مواد ساختمانی | ۱.۲۷ |
| نساجی | ۰.۷۳ |
| انرژی | ۰.۳۸ |
| ساختمانی و تعمیراتی | ۸.۲۰ |
| خدمات | ۳.۳۲ |
| هوتل و رستورانت | ۱.۳۳ |
| مخابرات | ۵.۹۶ |
| ترانسپورت زمینی | ۴.۸۶ |
| ترانسپورت هوائی | ۲.۳۵ |
| صحت و بهداشت | ۱.۴۲ |
| نشرات مطبوعات و چاپخانه ها | ۰.۰۵ |
| سایر خدمات | ۹.۹۰ |
| تجارت عمده | ۴.۳۴ |

| | |
|---|---|
| ماشین آلات | ۰.۱۳ |
| پطرولیم و روغنیات | ۱۱.۰۸ |
| پرزه جات | ۰.۲۶ |
| وسایل برقی | ۱.۹۱ |
| سمنت و مواد ساختمانی | ۲.۳۵ |
| مواد غذائی | ۷.۸۰ |
| سایر اقلام | ۴.۱۷ |
| تجارت های پرچون | ۷.۳۱ |
| سرک و راه آهن | ۰.۶۴ |
| بندها | ۰.۰۴ |
| معادن | ۰.۵۲ |
| سایر پروژه های زیربنائی | ۲.۴۴ |
| مؤسسات مالی و اعتباری | ۰.۰۰ |
| قروض زراعتی | ۳.۰۸ |
| قروض مصرفی | ۰.۶۵ |
| قروض رهنی مسکونی به اشخاص انفرادی | ۲.۷۸ |
| تمام قروض دیگر | ۰.۴۳ |
| **مجموعه** | ۱۰۰.۰۰ |

از جملۀ مجموع دارایی های نظام بانکی، قروض ناخالص نظام بانکی در ماه قوس ۱۳۹۵ ( دسمبر ۲۰۱۶) بالغ بر ۴۱.۲۵ میلیارد افغانی ( ۶۱۹ میلیون دالر) می‌گردد که ۱۳.۸۰ فیصد مجموع دارایی های نظام بانکی را تشکیل میدهد و در مقایسه با ۴۵.۴۱ میلیارد افغانی ( ۶۷۳ میلیون دالر) دوره قبلی ( قوس ۱۳۹۴) که ۱۶.۷۸ فیصد مجموع دارایی ها را تشکیل میداد و به اندازۀ ۵.۰۳ فیصد رشد نموده بود، در دوره تحت بررسی (قوس ۱۳۹۵)، ۹.۱۴ فیصد کاهش نموده است. کاهش در مجموع قروض در اثر تصفیه قروض، خریداری تضمین جایداد قروض از سوی بانک ها، حذف (Charge off) قروض خساره و استفاده کم از قروض اضافه برداشت صورت گرفته است.

| کتگوری بانک‌ها | قروض ناخالص (ارقام به میلیون افغانی) |
|---|---|
| بانک‌های دولتی | ۳،۰۵۶.۴۴ |
| بانک‌های خصوصی | ۳۷،۷۷۸.۱۱ |
| فروع بانک‌های خارجی | ۴۲۳.۶۶ |
| **مجموعه** | ۴۱،۲۵۸.۲۱ |

طوریکه در جدول فوق ملاحظه می گردد، بیشتر قرضه را بانک های خصوصی اجراء نموده اند که این خود به شکل غیر مستقیم روی ایجاد اشتغال اثرات مثبت می گذارد.

قابل تذکر است که بانکداری یکی از سکتور های مهم اقتصادی کشور محسوب می گردد که با سعی و تلاش و خدمات گونا گون می تواند سپردهای مردم را جلب کرده و با اجرای قرضه به سکتور های مختلف اقتصادی چون تعمیراتی، صنعت، زراعت و مالداری و خدمات زمینه بیشتر برای سرمایه گذاری در بخش های مختلف را مساعد کرده و راه را برای ایجاد اشتغال در کشور مساعد نماید.▣

**مأخذ:**

راپور سالانه ۱۳۹۵ د افغانستان بانک

# افغانستان ورځ تر بلې خپلو اقتصادي هیلو ته نږدې کېږي

د افغانستان او هند ترمنځ دویم هوایي دهلیز د ۱۳۹۶ کال د مرغومې په ۶ مه پرانیستل شو. افغان چارواکي خبر ورکوي چې د کابل او ممبیي ترمنځ د دوهم هوايي ترانزيټ پرانیسته او په دې اړه د فعالیتونو ډېریدا به افغانان هغو هیلو ته نږدې کړي، چې غوښتل یې افغانستان د نړۍ په اقتصادي پله بدل او د اقتصادي ترانزيټ ځای خپل کړي.

د افغانستان او هند تر منځ د هوايي دهلېز پرانیستنه د سوداګرۍ او په ځانګړې توګه د مېوو د صادراتو په برخه کې لوی فرصت دی چې په دې توګه د هېواد اقتصاد پیاوړی کیږي او سوداګر کولای شي له همدې لارې د صادراتو او وارداتو په برخو کې معیاري سوداګرۍ ته لاسرسی ومومي.

د افغانستان سوداګرۍ په ځانګړي توګه ترانزيتي سوداګرۍ له ډېرو کلونو راپدېخوا د ګاونډیو هېوادونو له سترو خنډونو سره مخ دي چې تل د دې هېوادونو له لورې په بېلابېلو پلمو اغېزمنېږي، چې د هېواد اقتصاد ته هم درانه زیانونه آوړي. نو له همدې کبله افغانستان ته پکار ده ترڅو د نورو لارو د موندلو په لټه کې ووسي او له یو یا دوو ګاونډیو هېوادونو له لوري د خپلې اغېزمنتیا کچه راټیټه کړي.

د دویم هوایې دهلیز په پرانیستې سره به د افغانستان صادارت لومړی ممبیي او له هغه ځایه بیا د نړۍ نورو سیمو ته په اسانۍ او کم لګښت سره ولیږدول شي. په تیرو ۶ میاشتو کې افغانو شاوخوا ۳۹۸ میلیون ډالره صادرات درلودل او که دا لړۍ پراخه شي، افغانان به د نورو پرمختګونو شاهدان وي.

د هېواد د ترانزیتي لارو د پراختیا لپاره د دولت هڅې لکه د آقینه-ترکمنستان اوسپنې پټلۍ، له چین سره ترانزیتي اړیکې، د چابهار بندر پرانیسته، د ایران-تورغونډۍ او د یادو هوایي سوداګریزو دهلیزونو پرانیسته، له ازبکستان سره ۶۰ بېلابېل تړونونه د افغانستان د سوداګرۍ د ودې او پرمختګ لپاره زمینه برابروي، چې کولی شي د کرنیزو څمکو په خړوبولو او د افغان محصولاتو د صادریدو په زیاتولو سره به لوی اقتصادي پرمختګ رامنځته کړي.

داچې هندوستان لیواله دی له افغانستان سره خپلې سوداګریزې اړیکې نورې هم پراخې کړي، د سیمې او د افغانستان ګاونډیو هېوادونو ته هم یو ښه فرصت دی چې له دې چانس څخه ګټه پورته کړي او له افغانستان سره په سوله ایزه او خوندي فضا کې خپله سوداګریزه راکړه او ورکړه پراخه کړي.

افغانستان یو کرنیز هېواد دی چې وچې او ډېرۍ تازه میوې یې د نړۍ په کچه شهرت لري، چې د ښه خوند لرونکې دي، خو له وختونو راهیسې دا تازه او وچې میوې ډېرۍ یې پاکستان ته لیږدول کیږي او نورو هېوادونو ته یې صادریدل ستونزمن او لږ دي، اوس چې له هند سره هوایي دهلیزونه پرانیستل شول، د افغانستان بېلابېل کرنیز محصولات به د هند بازارونو ته ولیږدول شي چې په دې سره به بزګران هم وهڅول شي، چې خپل محصولاتو ته پاملرنه ډېره کړي او د دې ترڅنګ د سږ کال په پرتله راتلونکي کال ښه محصولات وړاندې کړي چې د افغانستان د عادي او پراختیايي بودجې په بساینې به هم خپل مثبت اغیز وشیندي.

ورځ تر بلې دولت خپلې ژمنې بشپړوي او د سوداګرۍ او اقتصادي پرمختګ لپاره هڅه کوي چې خپلو سوداګریزو اړیکو ته پراختیا ورکړي او د افغانستان محصولات له بېلابېلو لارو په وسیله نورو هېوادونو ته صادر کړي.

دیادونې وړ ده چې د روان هجري لمریز کال په لومړیو کې افغان چارواکو د کارګو الوتکې پرمټ د کندهار او کابل له هوایي ډګرونو څخه سوداګریز توکي، طبي بوټي او د وچو او لندو میوو لیږدول پیل کړل. د سوداګرۍ خونو د معلوماتو له مخې د لومړي هوایي دهلیز له پرانیستې بیا د ۲۰۱۷ زیږدیز کال ترپایه یې ۱۶۴۰ ټنه وچې او تازه میوې، طبي بوټي او د افغان صنعتکارانو لاسي صنایع نوي ډهلي ته صادر کړي دي.

له هند سره د سوداګریزو توکو د دوهم هوايي ترانزيټ پرانیسته داسې مهال کیږي، چې یو شمیر خصوصي شرکتونه او د سوداګرۍ وزارت د ځینو نورو هېوادونو سره هم د ورته هوایي دهلیزونو د پرانیستې په هکله خبرې روانې کړي او افغان ولسمشر هم ژمنه کړې چې افغانستان له اقتصادي پلوه ورځ تر بلې پیاوړی کړي.▣

حمیدالله فیضي

اخیستنې:

http://salamwatandar.com/Pashto/Article.aspx?a=36643

https://kabull.com/ میرویس، تاریخ،

Dec 28, 2017

http://www.dw.com/fa-af

# په نوي نظام کې د بانکونو کړنو ته ځغلنده کتنه

په دې وروستيو کلونو کې په افغانستان کې د خصوصي بانکونو په جوړېدو سره ډېرې اقتصادي معاملې د پيسو لېږد او راليږد، سوداګريزې راکړې او ورکړې د بانکونو په وسيله ترسره کيږي او خلک په ډاډمن چاپېريال کې د پيسو ليږدول ترسره کوي او بانکونه توانيدلي چې ګڼ شمير اقتصادي فعاليتونه په خپلو چارو کې راونغاړي.

په ۲۰۰۳ م کال کې د افغانستان بانک نورو بانکونو ته د لايسنس (اجازه ليک) ورکول پيل کړل، او د افغانستان د بانکدارۍ د قانون په اساس هيڅ بانک نشي کولای چې د افغانستان بانک د اجازې پرته په خپل سر په کار پيل وکړي. اوس مهال په افغانستان کې د بانکونو شمېره ۱۵ته رسيږي، چې زرهاوو کسانو ته په کې د دندې زمينه برابره شوې ده. دا مهال په هېواد کې د شخصي بانکونو شمېره (۱۲) ته رسيږي، چې ټول يو له بل سره په ټينګه سيالۍ بوخت دي.

د هېواد د نوي بانکدارۍ سيستم مطابق پخواني بانکونه هم مجبور وو چې د کار د ادامې لپاره د افغانستان بانک څخه خپل اجازه ليک ترلاسه کړي،چې اوس ټولو بانکونو خپل اجازه ليکونه ترلاسه کړي دي. ګڼ شمير بانکونو خپلو مشتريانو ته د ډيبيټ کارت، ماسترکارت او ATM آسانتياوې هم برابرې کړي دي. په هېواد کې د افغاني بانکونو تر څنګ ځيني بهرني بانکونه هم فعاليت کوي. په افغانستان کې اوسمهال ګڼ شمېر بانکونه د اسلامي بانکدارۍ بيلابيل اکاونټونه (حسابونه) لکه مضاربت، مشارکت، حسنه پور، جاري حساب، الوديعه جا ري حساب، سپما حساب، ميعادي حساب او داسې نور ټول حسابونه خپلو مشتريانو ته وړاندې کوي. د افغانستان عصري بانکدارۍ د نړۍ اقتصادي نظام ته په کتو سره خلکو ته ټول لمړني خدمات برابر کړي د بېلګې په توګه هرڅوک کولای شي چې په افغاني بانکونو کې ډول ډول حسابونه پرانيزي، ضمانت ليک او ليټر آف کريډېټ ترلاسه کړي، او د ډيبيټ کارډ او کريډېټ کارډ سيستمونه يې هم فعال کړي دي.

يوشمېر بانکونو کې د (ای ټي ايم -ATM) سيستم هم پيل شوی او له عملي بڼې څخه يې خلک ګټه پورته کوي. د اوسنۍ بانکدارۍ څخه افغانان هم خوښ بريښي او څرګندوي چې سوداګريزو بانکونو په افغانستان کې ډېرې آسانتياوې رامنځته کړې دي، چې خلک کولای شي په ډير لږ وخت کې د هېواد په داخل او له هېواد څخه بهر پيسې واستوي يا يې ترلاسه کړي.

په افغانستان کې د درې لسيزو د جګړو

«

په ترڅ کې د بانکونو او اقتصادي راکړې او ورکړې په اړه باور ډېر زيان ليدلی او د دې اعتماد د بيا را غوړيدا په موخه بانکونو خپلې هلې ځلې ترسره کړي او خلکو لپاره يې د پور ورکونې او اخيستنې په اړه سهولتونه رامنځته کړي دي. اوس مهال د خصوصي بانکونو د فعاليت ساحه دومره پراخه شوې ده، چې د هېواد ګوټ ګوټ ته يې خپل فعاليتونه غځولي دي. بانکونه بايد هڅه وکړي چې خپل د کړنو ساحه پراخه کړي او خلکو ته داسې مفکورې وړاندې کړي چې خپلې سپما شوې پيسې په کورونو کې د ښخولو او په بالښتونو کې د ايښودلو پرځای په بانکونو کې سپما کړي.

بانکونه د سوداګرو د کړنو او يا سوداګرۍ فعاليتونو د پراختيا لپاره پور ورکوي، څو سوداګر د توليداتو او يا هم د فابريکو د جوړولو لپاره خپلې هڅې جاري وساتي. خصوصي بانکونه بايد خپل فعاليتونه او کړنې په داسې ډول ترسره کړي چې د خلکو قناعت او باور ترلاسه کړي او پيسې په ډېر خونديتوب او پرته له کوم خنډ څخه د ليږد او راليږد پروسه بشپړه کړي.

د افغانستان بانکونه له نړيوال بين المللي سيستم سره وصل دی چې په لوړې وړتيا او کم وخت سره کولای شي د نړۍ له ډېريو بانکونو سره اړيکې ټينګې کړي چې د دې سيستم د پراختيا لپاره بايد د افغانستان دننه هم خصوصي بانکونه د هېواد په ګوټ ګوټ کې فعاليت ترسره کړي څو د هېواد ټول وګړي له بانکي آسانتياوو څخه برخمن شي.

که څه هم سوداګريز بانکونه د پيسو د ليږد په پروسه کې د خلکو باور او اعتماد ترلاسه کړی، خو دا پروسه لاهم کار ته اړتيا لري او بانکونه بايد وکولای شي د نويو مديريتي سيستمونو په پلي کيدا سره مالي سيستم پياوړی، غښتلی او ګړندی کړي.

په هېواد کې سوداګرۍ او پانګه اچونه د کار او سولې په رامنځته کيدا نيغ په نيغه اغېز لري، نو د دې لپاره بايد د سوداګرۍ او پانګه اچونې پراختيا په موخه بېلابېلې لارې چارې ولټول شي.

د هېواد په اقتصادي وده کې بانکونه د پانګه اچونې فعاليتونو په ګړنديتوب او د اقتصادي څرخ په ګردښت کې مهم رول لوبوي.

د بانکدارۍ د صنعت او په نړۍ کې د مالي خدمتونو په پراختيا سره اسلامي بانکدارۍ هم په اسلامي او غير اسلامي هېوادونو کې د پام وړ وده کړې ده او د ۲۰۱۷ کال تر پايه پورې په ټوله نړۍ کې ۱۴۱ اسلامي بانکونو فعاليت کاوه چې ۵۷ اسلامي بانکونه يې په ختيځې آسيا کې موقعيت لري.▣

اخيستنې:

1. http://tadbireghtesad.ir/?p=238 (گروه پژوهشي مدرن)
2. http://www.tabnak.ir/fa/news/629917/
3. https://www.sinabank.ir/news دکتر کوروش پرويزيان مديرعامل



# تاپی؛ منبع خوب عایداتی برای آیندۀ افغانستان

بعد از سال ۱۳۸۱ و ایجاد ادارۀ موقت، حکومت انتقالی و روی کار آمدن جمهوری اسلامی، دولت افغانستان روی توسعۀ منابع عایداتی کار را آغاز کرده و همواره تلاش نموده تا بتواند بودجه عادی و انکشافی خود را از این طریق تأمین نماید.

پس از ایجاد حکومت جدید، مسلماً تأمین مصارف دولت بدون کمک کشور های کمک رسان امکان نداشت، اما مقامات افغان از آوان حکومت الی اکنون در تلاش بوده اند که این اتکا را به مرور زمان کاهش داده و در عین زمان چشمه های عایداتی داخل کشور را افزایش دهند، که یکی از این منابع پروژه تاپی می باشد.

افغانستان منحیث پل ارتباطی میان کشور های آسیای میانه و جنوب آسیا، یگانه راه کوتاه جهت احداث و انتقال پایپ لاین گاز ترکمنستان به پاکستان و هند می باشد که از این طریق کشور ما می تواند تا در پهلوی سایر منابع عایداتی خود، منفعت خوبی را نیز بدست بیاورد. احداث خط لوله تاپی یکی از بهترین نمونه های همکاری اقتصادی منطقوی به شمار میرود و یک امر مهم برای ایجاد اعتماد میان کشور های عضو محسوب می گردد.

خط لوله تاپی که قرار داد آن طی سال های گذشته عقد گردیده است، از کشور های ترکمنستان، افغانستان، پاکستان و هند می گذرد، طول مجموعی آن به ۱۸۰۰ کیلو متر میرسد که حدود ۷۵۰ کیلو متر آن از افغانستان می گذرد. این پروژه یک پروژه مهم و منبع خوب عایداتی در پهلوی سایر منابع عایداتی افغانستان محسوب گردیده که نقش بسیار مؤثری را در آینده اقتصادی کشور بازی خواهد نمود.

هزینۀ این پروژه ۱۸۰۰ کیلو متری خط لوله گاز به ۷.۶ ملیارد دالر بالغ می گردد که در ظرف پنج سال تکمیل و به بهره برداری گذاشته خواهد شد. گفته شده است و افغانستان می تواند از مزایای آن استفاده نماید.

باید یادآور شد که موجودیت پروژه تاپی برای افغانستان نه تنها از بعد اقتصادی حایز اهمیت است، بلکه در تأمین امنیت و صلح در منطقه نیز کمک می نماید.

باید گفت که افغانستان از مدرک حق العبور این پایپ لاین، سالانه میلیون ها دالر عاید بدست خواهد آورد که سبب افزایش در عواید اسعاری کشور می گردد. در کار حق العبور پایپ لاین از جمله ۳۳ میلیارد متر مکعب گاز طبیعی ترکمنستان، پنج میلیارد معکب را جهت رفع نیازمندی و احتیاجات دولت و مردم افغانستان می توانند به قیمت نازل خریداری نماید.

با افزایش عواید کشور، میتوان از آن در بخش های تولیدی و زیربناهای اقتصادی استفاده مؤثر کرد و زمینه کار را برای مردم فراهم ساخت تا آینده درخشان و رشد و انکشاف اقتصادی کشور را شاهد باشیم.▣

# برېښنايي بانکوالی او د هغې موخې

بانک په نني عصرکې د بشر د اقتصادي تبادلې يوه مهمه لاسته راوړنه ده چې په يوه وخت کې نه دي رامنځته شوي، بلکې په همغه ډول چې پيسې دتبادلې دتکامل له امله او د ورځنيو اړتياوو پربنسټ راڅرګند شوي بانک هم په دې لړ کې خپله اړتيا او اهميت را څرګند کړی دی .

په نړۍ کې بېلابېل بانکي سيستمونه شتون لري چې له مرکزي بانک سربېره زراعتي، صنعتي، سوداګري، خصوصي او نور بانکونه شته چې ځينې اشخاص، صرافان، سوداګر او تصديګانې خپلې معاملې لکه د اسعارو تبادله، د اسعارو لېږد او رالېږد او همدارنګه د لنډې مودې او اوږدې مودې پورونو ورکولو چارې ترسره کوي. د ساينس او تکنالوژۍ په پرمختګ او انکشاف سره د نورو سيستمونو ترڅنګ په بانکي سيستم کې هم پرمختګ رامنځته شو، لکه په اوسني بانکي سيستم کې چې برېښنايی بانکي سيستم يا (E-Banking System) دی.

لکه څرنګه چې د دوديزې بانکوالی په سيستم کې مشتريان د ډېرو ستونزو سره مخامخ ول، چې کله به يې د بانکونو سره معاملات ترسره کول نو دوی به بانکونو ته مراجعه کوله، يعنی د دوی فزيکي شتون به د معاملاتو په ترسره کولو کې شرط وو، خو د برېښنايي بانکداری په رامنځته کيدو سره هغه ستونزې چې دوديزې بانکداری درلودې حل او مشتريانو ته يې زيات سهولتونه رامنځته کړل او مشتريان کولای شي چې بغير د ورتګ څخه معاملات ترسره کړي.

برېښنايي بانکداری په اوس وخت کې يوه فعاله وسيله ګرځيدلې او په نړيواله سطحه يې د بانکداری سيستم ته بدلون رامنځته کړی دی.

د برېښنايي بانکوالی (E-Banking) څخه موخه معامله دار ته د انټرنيټ په ذريعه د بانکداری د آسانتياوو برابرول دي، د (E-Banking) په واسطه د مالي معاملې (Transaction) کولو آسانتيا هر وخت يعنې ۲۴ ساعته موجود وي، ځکه چې برېښنايي بانکوالی سيستم کې چې هروخت پېرېدونکی وغواړي نو راکړه او ورکړه کولای شي. برېښنايې بانکوالي د مشتري او بانک تر منځ د پله حيثيت لري.

**د برېښنايي بانکوالی يوه مهمه وسيله پلاستيکي کارتونه دي، چې ځينې مهم جوړښتونه يې په لاندې ډول دي.**

۱- ډېټ کارت (Debit card): دغه کارت د هغه پېرېدونکو لپاره جوړشوی دی چې غواړي خپلو ادواينو په برخه کې د دغه کارت څخه ګټه واخلي. يعنی پېرېدونکی د دې کارتونو په وسيله کولای شي نيغ په نيغه خپل بانکي حساب ته پيسې تاديه کړي.

۲- کريډټ کارت ( Credit card ):د دې کارتونو څخه ګټه اخېستنه په دې معنی ده چې د دې کارت لرونکی له خپلو ادواينو څخه ګټه اخلي او ځان د بانک پوره وړی کوي او وروسته د يوې مودې څخه خپل پور سره د ګټې بانک ته يوځای تاديه کوي.



فواد لودين

د ټولو ناظر اداری داخلی آډيټور

اخېستنې:

اقتصادي درسونه نصير کوټوال

بانکوالي، نيازی، محمد داود، ګودر خپرندويه ټولنه، ۱۳۹۱ ه ش.

بانکداري، پوهندوی سيد مسعود، د پوهنمل سيد داؤد صميم ژباړه، کتاب خپرندويه ټولنه ، ۱۳۹۳ ه ش.

WWW.Online Banking.Com.

Nasir Mohammad Saeed, Money,BankingAnd Finance, Kitab Markaz,Fisal abad,year 2008.

# مختصری در مورد اقتصاد افغانستان و کشورهای همسایه طی سال ۲۰۱۷



محبوب الله شریفی
مسئول خطرات آمریت عمومی عملیات بازار

با درنظرداشت اصل جهانی شدن، معاملات و مراودات تجاری افغانستان با سایر کشور ها بخصوص کشورهای همسایه روز به روز توسعه می یابد. در این میان بهبود و یا رکود اقتصادی کشورهای طرف معامله طبعاً تأثیرات مثبت و منفی را بر اقتصاد کشور ما بجا می گذارد. بناءً لازم است تا از اقتصاد کشورهای دیگر نیز آگاهی داشته باشیم.

بدین ملحوظ در اینجا مختصری از چگونگی اقتصاد افغانستان و کشورهای همسایه در سال ۲۰۱۷ را جهت معلومات علاقمندان بخش اقتصاد ارائه می نمایم:

طبق گزارش بانک جهانی که در مورد اقتصاد کشورها ترتیب گردیده است، انتظار میرود که میزان رشد اقتصادی افغانستان به طور متعادل افزایش یابد، اما روند چگونگی رشد وابسته به تأمین امنیت، اصلاحات درازمدت و همچنان ادامه کمک های جامعه جهانی میباشد. اتخاذ یک سلسله تدابیر مشخص در عرصه مدیریت مالی و اصلاحات اقتصادی برای بهبود اجرای بودجه و تخصیص بیشتر منابع برای مصارف بودجه ای یک امر مهم می باشد که نیازمند نیروی کار بیشتر است که بر اساس آن رشد اقتصادی در ۲ تا ۳ سال آینده افزایش می‌یابد. این بانک در عین حال پیش‌بینی کرده که میزان رشد اقتصادی افغانستان در سال ۲۰۱۸ نیز روند صعودی خواهد داشت. نرخ تورم در افغانستان، در ماه می ۲۰۱۷ به 7.5 درصد ثبت شده است. همچنان طبق پیش‌بینی که در این گزارش صورت گرفته، رشد اقتصادی افغانستان در سال ۲۰۲۰ به ۳،۶ درصد خواهد رسید، اما طوریکه ذکر شد رسیدن به این هدف مرتبط به اوضاع امنیتی و ثبات سیاسی است.

در قسمت دیگر از این گزارش سال ۲۰۱۷، پیش بینی شده است که پاکستان به عنوان دومین قدرت بزرگ اقتصادی در جنوب آسیا مطرح شده و تا ۳ سال آینده رشد اقتصادی خوبی خواهد داشت و سرمایه‌گذاری در این کشور افزایش می یابد. همچنان در این گزارش گفته شده است که رشد اقتصادی پاکستان در سال ۲۰۱۷ حدود 2.15 درصد، در سال ۲۰۱۸ حدود 5.15 درصد و در سال ۲۰۱۹ حدود 8.15 درصد خواهد بود. پاکستان در سال ۲۰۰۴- ۲۰۰۵ با نرخ رشد اقتصادی 4.8 درصدی در کنار سنگاپور ایستاده و بعنوان دومین و سریعترین اقتصاد رو به رشد آسیا پس از چین مطرح شد. اقتصاد پاکستان طی دو دهۀ اخیر فراز و نشیب های فراوانی را تجربه نمود که مهمترین عامل آن عدم ثبات سیاسی دولت، خصوصاً در بخش اقتصادی کابینه های فدرال بوده است. جهش رشد اقتصادی کشور از ۲٪ به ۷٪ در سال گذشته، در کنار مشکلات عدیده اقتصادی و سیاسی، بحرانهای منطقه ای و بین المللی، افزایش روبه رشد نفوس حدود ۴۰ میلیونی طی ۱۵ سال اخیر و مشکلات مربوط به افزایش شاخص قیم جهانی ( خصوصاً انرژی) دستاورد مهمی برای دولت فعلی کشور بشمار می آید. سرمایه گذاری میلیاردی چین در پروژه های اقتصادی پاکستان و علاقه مندی روسیه برای همکاری با این کشور سبب شده که بورس کراچی نیز رشد چشمگیری را تجربه کند.

در این گزارش آمده است که رشد تولید ناخالص ملی ترکمنستان طی سال ۲۰۱۶ به ۶،۲ درصد میرسید که در سال ۲۰۱۷ رشد چشمگیری داشته است. همچنان میزان رشد اقتصادی ترکمنستان که جمعیت آن بالغ بر ۶ میلیون نفر است، در دو سال آینده حدود ۷ درصد خواهد بود. ترکمنستان با دارا بودن منابع عظیم نفتی و گازی، یکی از کشورهای منطقه با رشد اقتصادی بالا در جهان است، طوری که تولید ناخالص

»

داخلی این کشور هر ساله روند رو به رشد را تجربه کرده است. با توجه به اجرایی بودن پروژه‌های سرمایه گذاری وسیع ترکمنستان، از جمله ساخت تأسیسات جدید فرآوری نفت و گاز، انتظار می رود، روند رشد تولید ناخالص داخلی این کشور همچنان افزایش یابد. صنایع نفت و گاز، پتروشیمی، انرژی برق، ساخت و ساز، زراعتی و ارتباطات و مالیات از مهم ترین منابع درآمد بودجه سال ۲۰۱۷ میلادی ترکمنستان تعیین شده اند.

بر اساس گزارش خبرگزاری رسمی ایران «ایرنا»، بانک جهانی، رشد اقتصادی ایران در سال ۲۰۱۶ را به میزان ۴.۶ درصد اعلام کرده بود و براساس پیش بینی ها این رقم در سال ۲۰۱۷ به ۵.۲ درصد افزایش یافت. طبق این گزارش پس از کشور جیبوتی، ایران بالاترین نرخ رشد اقتصادی را در منطقه خاورمیانه و شمال افریقا داشته است.

صندوق بین المللی پول در تازه ترین گزارش خود از وضعیت اقتصادی جهان، نرخ رشد اقتصاد ازبکستان در سال های ۲۰۱۷-۲۰۱۸ را ۶ درصد پیش‌بینی کرد. در این گزارش، میزان تورم این کشور برای سال ۲۰۱۷ به اندازه ۸.۶ درصد وبرای سال ۲۰۱۸ به اندازه ۸.۸ درصد پیش بینی شده است. به گزارش کمیته آمار دولتی ازبکستان تولید ناخالص داخلی این کشور در شش ماه نخست سال ۲۰۱۷ به ۷ درصد رشد کرد. تولیدات بخش صنعتی ازبکستان ۷.۶ درصد، در زمینه زراعتی ۵.۸ و در بخش خدماتی ۱۱.۶، در بخش ساختمان سازی ۸.۷، حمل و نقل باربری ۲.۹ و در بخش حمل و نقل مسافرین ۵.۲ درصد رشد داشته است. حجم سرمایه گذاری ازبکستان در دوره مذکور با ۸.۳ درصد افزایش به ۲۹ تریلیون و ۵۹۹ میلیارد افزایش یافته است. افزایش تولید ناخالص داخلی به میزان ۷.۸، از اهداف دولت ازبکستان در سال ۲۰۱۸ است. در گزارش بانک جهانی، چشم انداز اقتصادی ازبکستان ۷.۶ درصد پیش بینی شده بود.

به گزارش پایگاه خبری- تحلیلی کا- ایرنیوز، صندوق بین المللی پول، کاهش رشد اقتصادی را در سال های ۲۰۱۷ و ۲۰۱۸ برای تاجکستان پیش بینی کرده است. این نهاد مالی بین المللی در تازه ترین گزارش خود از وضع اقتصادی کشورهای آسیای مرکزی، رشد اقتصادی تاجکستان را برای سالجاری به دلیل تثبیت مالی و کاهش اعتبارات ۴.۵ درصد و برای سال ۲۰۱۸ تا ۴ درصد پیش بینی کرده است. همچنان رشد تولید ناخالص داخلی تاجکستان در سال ۲۰۱۶ را ۶.۹ درصد ارزیابی کرده بود. صندوق بین المللی پول نیز به دولت تاجکستان توصیه کرد که محتاطانه سیاست‌های اقتصادی بزرگ و تشدید اصلاحات، به ویژه به بخش بانکی را انجام دهد. به گفته تحلیلگران IMF، رشد آهسته در بازارهای رو به رشد تاجکستان منجر به کاهش درآمد، قروض و سرمایه گذاری مستقیم خارجی در این کشور خواهد شد. در این گزارش اشاره شده که خطر بدهی های خارجی تاجکستان نیز رو به افزایش است.

اقتصاد چین در سال ۲۰۱۷ میلادی ۶.۹ درصد رشد نموده است. دفتر ملی آمار چین اعلام کرد که اقتصاد این کشور در سال گذشته با ۶.۹٪ رشد به بیشترین میزان خود از سال ۲۰۱۵ رسیده است. اقتصاد چین در سه ماه آخر سال گذشته ۶.۸ درصد رشد داشته است. براساس این پیش بینی دولت چین اعلام کرد که هدف رشد اقتصادی در سال ۲۰۱۸ در حدود ۶.۵ درصد است. در حال حاضر اخذ تدابیر احتمالی توسط دونالد ترامپ رئیس جمهوری امریکا برای مهار مازاد تجاری چین و امریکا، به عنوان بزرگترین خطر برای اقتصاد این کشور نشان داده شده است. اقتصاد چین سال ۲۰۱۸ را در حالی آغاز می کند که بدهی داخلی، فقر و آلوده گی هوا سه مسئله ای هستند که حتی خطرناک تر از نرخ بهره بالاتر و خطرات جنگ تجارتی از جانب امریکا برای این کشور به شمار می روند.▣

1. http://www.eghtesadonline.com
2. http://www.worldbank.org

# افغانستان دولت په مالي نظام کې د اصلاحاتو په موخه مرستې ترلاسه کړې

د افغانستان دولت هڅه کوي چې د مالي نظام د ټینګښت په موخه له بېلابېلو لارو څخه کار واخلي او د یوه سالم او عصري مالي نظام د جوړېدو لپاره لارې چارې برابرې کړي. په همدې موخه یې له نړیوالو په ځانګړي توګه مرسته کوونکو هېوادونو سره ژمنې کړې چې اداري او مالي اصلاحات به رامنځته کوي، څو د ښې حکومتوالی لپاره لارې چارې هوارې شي.

په همدې ډول په بنسټیزو پروژو لګښت، د عاید لرونکو سرچینو په پیدا کولو سره خلکو لپاره کاري چاپېریال برابرول، له اداري فساد سره مبارزه، د مرستو روڼ لګښت، په ګمرکونو کې له معیاري سیستم او نوې ټکنالوژۍ څخه کار اخیستل او په ټوله کې د مالي نظام ټینګښت هغه ژمنې دي چې افغانستان دولت له نړیوالو سره کړې دي.

د دې اصلاحاتو د رامنځته کېدو او عملي کولو لپاره نړیوال بانک، د مالي کړنو د ښه والي پروژې د ملاتړ په موخه له افغانستان دولت سره د ۱۰۰ میلیونه امریکایي ډالرو وړیا مرستې هوکړه لیک لاسلیک کړ. د دې پروژې موخه، د افغانستان دولت اړوندو مالي چارو ادارو د مدیریت، په ځانګړي توګه د مالیه وزارت د تدارکاتو کمیسیون او پلټنې عالي ادارې د ظرفیت لوړول بلل شوي دي. په یاده پروژه کې د پراختیا او انکشاف لپاره د وسایلو په توګه بودجه، د عوایدو زیاتوالی، د خزاینو مدیریت، څواب ویل او روڼوالی او د اداري وړتیا او اجرائیوي مدیریت رامنځته کېدا دغه څلور برخې رانغاړي.

ویل کیږي چې له دې مرستې څخه ۲۵ میلیونه امریکایي ډالره د بېوزله هېوادونو لپاره د نړیوال بانک ګروپ اړوند، د نړیوالې پرمختیایي ادارې لخوا او ۷۵ میلیونه امریکایي ډالره یې د افغانستان د بیا رغونې صندوق لخوا ورکول کیږي.

د افغانستان دولت هڅه کوي چې په مالي نظام کې د اصلاحاتو له لارې پراختیایي چارې پراخې کړي، د عوایدو راټولولو چارې غښتلې او ګړندی شي او په ښه توګه د افغانستان ګوټ ګوټ ته د خدمتونو لړۍ وغځیږي. دا چارې هغه مهال عملي بڼه پیدا کولای شي چې افغانستان د عادي او پراختیایي بودجې له پلوه په خپلو پښو ودرېږي، اداري فساد پای ومومي او د ښې حکومتوالی کړنې د هېواد لر او بر ته ورسیږي.

د افغانستان دولت کلني عوایدو راټولولو کچه کال په کال لوړیږي او له۲۰۰۲ زیږدیزکال راهیسې چې هغه مهال د کلني عوایدو راټولیدو کچه ۱۳۰ میلیونه امریکایي ډالر وو، په ۲۰۱۷ زیږدیزکال کې د عوایدو د راټولیدو کچه نږدې ۲.۵ میلیارده امریکایي ډالرو ته رسیدلې ده.

که چېرې د افغانستان مالیې او عوایدو راټولولو سیستم په بریښنایي او انلاین بڼه سمبال شي، ورسره به د اداري فساد مخه ډب او عواید به لوړ شي. د بریښنایي سیستم په رامنځته کیدا سره به کاري چټکتیا رامنځته شي، د خصوصي سکتور وخت به نه ضایع کیږي، د سوداګرو او مالیې برخې کارمندانو ترمنځ به تماسونه کم شي، فساد مخه به ونیول شي او ټول۵۰۰ ستر مالیه ورکوونکي شرکتونه چې پلورل یې له ۳۰۰ میلیونو افغانیو زیات دي خپله بشپړه مالیه دولت ته وسپاري. دولت د عوایدو د ډېرېدا پر بنسټ به ترانزیتي لارې جوړې کړي، د سوداګرۍ پراختیا په موخه به د نړۍ له ګوټ ګوټ سره همکارۍ ته دوام ورکړي او د دې ترڅنګ به د مالیې په ورکړې سره د حکومتوالی خدمتونه د هېواد ګوټ ګوټ ته وغځیږي.

د یادولو وړ ده هغه لاسته راوړنې چې تردې مهاله افغانستان دولت له ځان سره لري د کلني عوایدو د راټولولو دکچې لوړېدل، افغانستان د نړیوالې مالي اقداماتو ډلې (FATF) له خړ رنګه نوملړ څخه په بریالی توګه بهر کیدل، هغه ژمنې چې د افغانستان دولت د مالي سکتورونو د اصلاحاتو، ښې حکومتوالی، له اداري فساد سره د مبارزې، د عوایدو په راټولولو، د ملي بودیجې د روڼ لګښت، د خصوصي سکتور د پیاوړتیا، اقتصادي ودې او کار موندنې په اړه له نړیوالو په ځانګړي توګه د پیسو نړیوال صندوق سره کړې وې، د پیسو نړیوال صندوق له پلوه بریالی ګڼل شوي او له اداري فساد سره په مبارزه کې هم پرمختګونه رامنځته شوي دي.▣

اخیستنې:

http://spogmairadio.af/test/index.php/newa/economic/item/1053-2018-01-29-04-26-57

https://www.khaama.com/pashto/archives/10225

https://president.gov.af/ps/20180129

# د افغانستان بانک، شریعه بورډ غونډه جوړه شوه

د ۱۳۹۶ کال د سلواغلي ۱۴ مه – د افغانستان بانک د شریعه بورډ د ۲۰۱۸ زیږدیز کال لومړۍ غونډه د ډاکټر مصطفی نیازي تر مشرۍ لاندې د اسلامي بانکدارۍ په برخه کې د آسانتیاوو د رامنځته کولو لپاره جوړه شوه. د دې غونډې موخه د اسلامي بانکدارۍ په اړه د طرزالعملونو، سوداګریزو بانکونو د پالیسیو او طرحو ارزول او د اړتیا پرمهال په دغو طرزالعملونو کې د بدلونونو راوستل وو.

ځینې پورتنۍ برخې له بحثونو وروسته د شریعه بورډ له خوا تائید شوې او د ځینو برخو لپاره یې حل لارې وړاندې شوې چې په پلي کیدا سره به یې د اسلامي بانکدارۍ په برخه کې نورهم اسانتیاوې رامنځته شي.

د افغانستان بانک هڅه کوي چې د اسلامي بانکدارۍ د پیاوړتیا او غښتلتیا په موخه بېلابېل طرزالعملونه رامنځته کړي چې د اسلامي بانکدارۍ د پرمختګ لامل وګرځي.

د یادونې وړ ده چې په دې غونډه کې سید خالد، پروفیسور محمد اکرم لعل الدین له بهر څخه په انلاین د غړیو په توګه او په ځنګ کې ډاکټر جهانتاب ولیزار او د مالي چارو د څارنې لوی آمریت د اسلامي بانکدارۍ د برخې مرستیال عبدالله لودین هم ګډون کړی وو.▣

# د افغانستان بانک، وړو مالي مؤسساتو ته د پور ورکونې په برخه کې آسانتیاوو ته د لاسرسي لارې چارې برابروي



د ۱۳۹۶ کال د سلواغې ۳مه نېټه د افغانستان بانک د عامه اعتبارونو د ثبت اداره په پورونو کې د آسانتیاوو د رامنځته کولو او مالي اعتبارونو ته د پور ورکونې د وړو مالي مؤسساتو د لاسرسي په موخه د پور ورکونې له وړو مالي مؤسساتو سره هوکړه لیکونه لاسلیک کړل.

د افغانستان بانک دویم مرستیال ښاغلي محمد قسیم رحیمي څرګنده کړه چې د دې اداري له لارې مالي مؤسسې کولای شي د عامه اعتبارونو د ثبت سیستم ته په لاسرسي سره د هغو وګړو د اعتباري مخینې په اړه بشپړ معلومات ترلاسه کړي چې د مالي خدمتونو په ځانګړې توګه د پورونو د اخیستلو غوښتونکي وي. ښاغلي رحیمي زیاته کړه چې د افغانستان بانک هڅه کوي له ټولو مالي مؤسساتو ته چې په افغانستان کې مالي کړنې ترسره کوي آسانتیاوې رامنځته کړي او کړنې یې د قانون په رڼا کې ترسره شي.

دغه راز د پور ورکونې مالي وړو مؤسسو چې (FINCA,IIFCG,OXUS,DFI,EXCHANGER) رانغاړي د هوکړه لیکونو د لاسلیک پرمهال ژمنه وکړه چې د افغانستان بانک سره خپلو همکاریو ته دوام ورکوي او د هوکړه لیکونو له مخې به خپلې چارې مخ ته یوسي. د دې هوکړه لیکونو موخه د عامه اعتبارونو د ثبت سیستم معلوماتو ته لاسرسی، د مالي خدمتونو د وړاندې کولو په برخه کې روڼتیا او د پور ورکونې په اړه ډاډ منتیا ګڼل کیږي.

دیادونې وړ ده د عامه اعتبارونو د ثبت د اداري د جوړیدو موخه مالي مؤسسو، سوداګریزو بانکونو، مخابراتي شرکتونو او اړوندو ادارو لپاره د معیاري اعتباري معلوماتو راټولول، د ښو اعتباري خدمتونو وړاندې کول، مالي معاملاتو ته چټکتیا ورکول او د روڼتیا رامنځته کول دي.▣



## دیدار هیئت رهبری د افغانستان بانک از آمریت زون جنوب غرب

محترم محمد قسیم رحیمی معاون دوم د افغانستان بانک در حالیکه هیئت معیتی ایشانرا همراهی می کرد، اول دلو سالروان از بخش های مختلف د افغانستان بانک در ولایت کندهار دیدن بعمل آورد.
محترم محمد قسیم رحیمی ضمن تقدیر و ستایش از کار و زحمتکشی کارمندان آمریت زون جنوب غرب، بر شفافیت بیشتر در عرصه های بانکی، مالی و عملیاتی تأکید ورزیده و افزود که شفافیت در نظام مالی یکی از ارزش های محوری و اساسی د افغانستان بانک شمرده می شود که رعایت جدی آن در مؤثریت فعالیت های نظام مالی نقش عمده دارد.
محترم رحیمی همینگونه به آمریت زون هدایت داد، که در ارتقای مسلکی کارمندان مربوطه بیشتر تلاش نماید که کارمندان با ظرفیت کاری بیشتر، امور مربوطه را در اسرع وقت به گونۀ مؤثر انجام بدهند تا سکتگی های احتمالی که ناشی از ظرفیت پائین کاری باشد، مرفوع گردد.
محترم محمد قسیم رحیمی، ضمن ستایش و تشکر از تلاش های آمریت زون جنوب غرب در زمینۀ ترویج پول افغانی، توجه بیشتر این آمریت را برای تسریع هر چه بیشتر روند این پروسه ملی جلب نمود و به اهمیت آن تأکید ورزید.▣

## د افغانستان بانک د مالي او محاسبې عمومي آمریت د سي بي اس او مالی سیستمونو برخي مرستیال وپیژندل شو

کابل، د ۱۳۹۶ کال د سلواغې ۲۱ مه د افغانستان بانک مشر تابه پلاوي د کارکوونکو په ګمارنه کې د ژمنتیا د اصل او د لوړو زده کړو لرونکو، وړ، مجربه او کار پوهه کارکوونکو د ټاکلو او ګمارلو په پام کې نیولوسره ښاغلی خواجه محمد سهیل صدیقي چې د ماسترۍ تر کچې لوړې زده کړې لري او د سي بي اس د مدیر په توګه یي دنده ترسره کړې ده، د افغانستان بانک د مالي او محاسبې د عمومی آمریت د سي بي اس او سیستمونو د مرستیال په توګه وټاکه او هغه یې د دې آمریت کارکوونکو ته وپیژانده.
د افغانستان بانک دویم مرستیال ښاغلي محمد قسیم رحیمي د دې غونډې پرمهال وویل چې د سیستمونو د جوړولو او پرمختګ لپاره باید کار وشي، څو د کارمندانو په ادلون او بدلون سره چارې ټکنی نشي. هغه زیاته کړه چې تل هڅه کوي د چارو د پرمختګ او ښې همغږۍ په موخه وړ، با استعداده او نوښتګر کسان تشخیص او په لوړو مدیریتونو کې یې په دندو وګماري چې ښه بیلګه یې په دې برخه کې د خواجه محمد سهیل ټاکنه ده.
دغه راز ښاغلي رحیمي د خواجه محمد سهیل ټاکنه یو اړین او پرځای ګام وباله او هیله وکړه چې د اغیزناکه او ګټورو پروګرامونو په طرحه کولو او د سیستمونو په پرمختګ سره به د خپلې اړوندې ادارې د لا ښه والي او پیاوړتیا لامل شي.
په پای کې ښاغلي خواجه محمد سهیل هم له مشرتابه پلاوي څخه د مننې ترڅنګ ژمنه وکړه چې د ورسپارل شویو چارو د لا ښه والي لپاره به له ریښتینولی، روڼتیا او صداقت څخه کار واخلي او د مالي او محاسبې عمومي آمریت د اړوند برخې کارکوونکي به د سیستمونو په پرمختګ کې بیلګه وګرځوي. د یادونې وړ ده چې د ښاغلي خواجه محمد سهیل د پیژندنې په مراسمو کې د افغانستان بانک د بېلابېلو شعبو د آمرینو او مرستیالانو ترڅنګ یو شمیر کارکوونکو هم ګډون کړی وو.▣

# برنامه آموزشی تفتیش داخلی برای کارمندان د افغانستان بانک دایر گردید

برنامه آموزشی سرتیفکیشن CIA یا Certified Internal Audit که یک برنامه بین المللی در مورد تفتیش داخلی است به کمک مالی بانک جهانی و همکاری انستیتوت مالی و بانکداری افغانستان در مرکز آموزش د افغانستان بانک به راه انداخته شد.

هدف از راه اندازی این برنامه آموزشی ارتقای ظرفیت کارمندان آمریت های ناظر کُل، نظارت امور مالی، محاسبه ومالی و مرکز تحلیل راپور های مالی د افغانستان بانک می باشد.

در ابتدأ محترم بشرمل پسرلی آمر منابع بشری د افغانستان بانک، روی اهمیت این برنامه آموزشی صحبت نموده گفت که اشتراک کننده گان این برنامه آموزشی بر علاوه آشنایی با معیار های تفتیش صورت حساب های مالی و سایر موارد مهم که می تواند در ساحهٔ کار برای شان کمک کند، در مورد تجارت سایر کشور ها در این زمینه، آموزش خواهند دید.

در اخیر محترم اصیل گل طوطا خیل ناظر کُل د افغانستان بانک و محترم لطف الحق پسرلی مسؤل انستیتوت مالی و بانکداری افغانستان نیز صحبت های ارزنده در زمینهٔ آموزش این برنامه مفید ارائه نمودند.▣

# د افغانستان بانک د زونونو د آمریتونو د کړنو او ننګونو د ارزولو په موخه غونډه جوړه شوه



د ۱۳۹۶ کال د سلواغې ۲۹ مه- د افغانستان بانک د دویم مرستیال ښاغلي محمد قسیم رحیمي په مشرۍ د افغانستان بانک د اووه ګونو زونونو د آمریتونو د کړنو او د شته ننګونو د ارزونې او د دې ترڅنګ په یادو زونونو کې د تشکیلاتي جوړښتونو په موخه د حل لارو د موندلو په اړه غونډه جوړه شوه.

د افغانستان بانک دویم مرستیال ښاغلي محمد قسیم رحیمي د بانکي نظام د تېرو کلونو لاسته راوړنو او د بانکي خدمتونو په برخه کې خلکو ته د آسانتیاوو د برابرولو لپاره د پرمختللو سیستمونو د رامنځته کولو ته په اشارې سره وویل چې د هېواد په هر ګوټ کې خلکو ته د لا ښو خدمتونو د وړاندې کولو لپاره د افغانستان بانک مشرتابه پلاوی ژمن دی چې د افغانستان بانک د زونونو آمرینو سره د ننګونو او حل لارو په اړه غونډې جوړې کړي.

ښاغلي رحیمي زیاته کړه چې د کارکوونکو د مسلکي وړتیا لوړول، د تکنالوژۍ د پرمختګ سره سم د بانکي سیستمونو عیارول، د آزاده سیالۍ له لارې د وړ او تجربه کارو کسانو ګمارل او د کارکوونکو لپاره د مسلکي ښوونیزو پروګرامونو پلي کول د بانکي نظام د پیاوړي کیدو لپاره اړین موضوعات دي چې د افغانستان بانک کې ترسره کیږي.

په دې غونډه کې د افغانستان بانک د زونونو آمرینو د کارکوونکو د وړتیاوو، د زړو پیسو د راټولولو د څرنګوالي، د زونونو د کارکوونکو ګومارلو او د تخنیکي توکو د لیږد په اړه خپل نظرونه او وړاندیزونه، وړاندې کړل.

په پای کې د افغانستان بانک دویم مرستیال وویل چې د افغانستان بانک مشرتابه پلاوی هڅه کوي چې کارکوونکو لپاره اړینې آسانتیاوې رامنځته کړي، خو کارکوونکي په خونډي چاپیریال کې خپلې ورځنۍ چارې مخ ته یوسي.

د یادولو وړ ده چې په دې غونډه کې د افغانستان بانک د اووه ګونو زونونو د آمرینو سربېره د افغانستان بانک د مالي او محاسبې، د بانکي عملیات او بشري سرچینو لویو آمریتونو آمرینو هم ګډون کړی وو.▣

# د مالي ادارو د خطرونو بیلابیل ډولونه

که چیرې مالي ادارې، بانکي او غیر بانکي چارې سره ګډې کړي نو له بالقوه خطر سره به هم مخ شي.

ځرنګه چې د نړۍ تر ټولو لوی بانکونه نه یوازې بانکونه دي، بلکې مالي لوی بازارونه هم دي چې کولای شي بیه لرونکي پاڼې تضمین کړي، دوه اړخیزه فنډونه (پانګې) مدیریت او د پور ورکولو ترڅنګ د صرافانو دنده ترسره کړي. د بېلابېلو خدمتونو د وړاندې کولو په پایله کې د دې ادارو ګټې زیاتې شوي دي، آیا دا نړیوال بانکونه دي چې د بانک د ټولو برخو چارې ترسره کوي او که بانکي او غیر بانکي شرکتونه دي چې په جلا جلا توګه خدمتونه وړاندې کوي؟

خو کله چې دا ټولې کړنې د یو چتر لاندې ترسره شي، د ډیرو قانون جوړونکو په باور نوي خطرونه به زیات شي چې د خطرونو د زیاتېدو له امله به دواړه، اداري او مالي سیستم له خطر سره مخ کړي. د ۲۰۰۸ کال له نړیوال مالي کړکیچ وروسته، په یو شمېر هېوادونو کې قانون جوړونکو ځینې قوانین وړاندې کړي دي، څو له دې لارې سنتي بانکداري (د امانتونو اخیستل او د پورونو ورکول) د نورو مالي خدمتونو له اړوندو خطرونو څخه جلا کړي.

د بېلګې په توګه، په متحدو ایالاتو کې د ولکر قانون «Volcker Rule» چې بانکونه د خپل سري سوداګریو او پانګونو په برخو کې د امانتونو له کارونې یا ونډې څخه منع کوي، په ۲۰۱۰ کال کې د Dod-Frank Actد قانون په توګه تصویب شو. همدا ډول د اروپا قانون جوړونکو هم په دواړه انګلستان او اروپايي ټولنه کې د خپلو پاتې عملیاتو په ترڅ کې د سنتي بانکونو د بېلابېلو ډولونو د جلا کیدو وړاندیز کړی دی.

د یادونې وړ ده چې دا اقدامات ډېری د وېرې پر بنسټ پورته شوي چې کیدای شي د تجربې څخه زیاتې ناوړه پېښې واقع شي. د پورتني کړکیچ د رامنځته کیدو اصلي لامل د بانکونو او غیر بانکي ادارو لخوا د پور ورکړې په برخه کې کمزوره پرېکړې ویل شوې، نه د غیر سنتي کړنو لکه اختصاصي سوداګرۍ کمزورتیا.

په هر حال، دا پرېکړې ښايي له هغه احتمالي زیان څخه د سنتي بانکدارۍ ساتنه وکړي چې د بانکونو او نورو مالي کړنو په پایله کې رامنځته کېږي. دا پرېکړې باید د یو واحد شرکت د خطرونو د کره څېړنې پر بنسټ له نورو مالي خدمتونو سره د بانکدارۍ د چارو په یوځای کولو کې شاملې شي.

**د مالي ادارو د خطرونو توپیروالی**

مونږ په دې برخه کې د سنتي بانکدارۍ د خطرونو او د نورو مالي ادارو د خطرونو تر منځ مهم توپیرونه تر بحث او څېړنې لاندې نیسو. دا توپیرونه په ډاګه کوي چې ولې مالي خطر د دوو کټګوریو (ورو او چټکه اغیز لرونکو مالي خطرونو) پر بنسټ د بانکونو غیر سنتي کړنې خطرناکه دي:

ورو اغیز لرونکي مالي خطرونه یوه اداره په اوږد مهاله توګه یعنې د میاشتو او کلونو په اوږدو کې زیانمنوی شي، ځکه چې دا خطرونه نسبتاً په کراره توګه رامنځ ته کېږي او ډېری وخت مخکې له مخکې یوه اداره د راتلونکي ګواښ/ زیان څخه خبروي. د پور د ورکړې د کموالي او پاتې راتګ خطر د ورو اغیز لرونکي مالي خطر یوه مخکښه بېلګه ګڼل کېږي. ډېری وختونه، پور اخیستونکي د پلورنو یا نورو عوایدو د کموالي له امله د خپلو پورونو په بیا

»

ورکړه کې له ستونزو سره مخ کیږي.

چټکه اغیز لرونکي خطرونه په چټکۍ سره وده کوي او په لنډ مهاله موده کې یوې ادارې ته زیان رسوي. د دې ډول خطرونو وړاند وینه نه کیږي او د یوې ادارې په چارو باندې د دې خطرونو د اغیز مخنیوی ناشونې ده.

اوس مهال ښایي د ۲۴ ساعته بازارونو کمپیوټري سوداګرۍ، د بریښنایي اړیکو شبکې او د بازار بیې هره شېبه، هره دقیقه یا هان هره ثانیه بدلون ومومي. د بیلګې په توګه په دې وروستیو کلونو کې په نړیواله کچه د ونډو او د پور پانګو بازارونو د پام وړ زیانونه تجربه کړي دي چې له امله یې د بازار نرخونه په څو دقیقو کې د دوی د ورځنیو نرخونو د بدلونونو په پرتله ډېر راکم شوي دي.

چټکه اغیز لرونکي خطرونه په ځانګړې توګه د مالي چارو هغه مدیران له ننګونو سره مخ کوي چې د خپلې ادارې اړوندې کړنې له احتمالي خطرونو پرته د ګټې د ترلاسه کولو لپاره وکاروي . همدا ډول که چېرې دا مدیران د چټکه اغیز لرونکو خطرونو ګواښ ته ارزښت ور نه کړي او پرېږدي چې په اداره کې د ډېرو زیانونو او ګواښونو د رامنځته کیدو لامل شي، نو کیدای شي چې د یو شرکت د پانګې کچه د پام وړ راکمه شي.

له همدې امله باید ورو او چټکه اغیز لرونکي خطرونه په جلا جلا ډول مدیریت شي. سربېره پر دې، هغه شرکتونه چې د دې خطرونو له ګواښ سره مخ دي، ډېر متفاوته جوړښت او تنظیم ته اړتیا لري. له همدې امله په یو اداره کې د یادو خطرونو د بیلابیلو ډولونو ګډول ښایي ډېر خطرناک ثابت شي. لاندې دوه ډوله خطرونه ډېر اړین نه دي.

د بېلګې په توګه، د یو داسې نړیوال بانک ( یا د بانک د سهامي شرکت) په اړه چې امانتونه ترلاسه او پورونه ورکوي، خو د یوې داسې ځانګې چارې هم پر مخ وړي چې په دولتي بیه لرونکو پانګو کې پانګونه کوي، فکر وکړئ. بانکي ځانګه د پور ورکړې د ورو اغیز لرونکي اعتباري خطر په کټګورۍ کې راځي، حال دا چې د پانګونې ځانګه د پانګې اچونې او سوداګرۍ د چټکه اغیز لرونکي بازار د خطر په کټګورۍ پورې تړاو لري. بانکي ځانګه هره ورځ نسبتاً لږ نوي پورونه اختصاصوي، خو د پانګونې ځانګه په دوامداره توګه خپله پورتوفولیو د دولتي بیه لرونکو پانګو د پېر او پلور له لارې عیاروي.

**د بانکدارۍ او سوداګرۍ ځانګې**

د بانکدارۍ د ځانګې خطر په تدریجي ډول بدلون مومي، ځکه چې د ورځنیو ټولیزو پورونو د خطر له امله یوازې ډېر کم مبلغ بدلون پیدا کوي او اعتباري خطر چې یو ورو اغیز لرونکی مالي خطر دی، په ورو ډول په کې بدلون راځي.

خو د پانګونې د ځانګې خطر کېدای شي هره ورځ او هان هره دقیقه د پام وړ بدلون ومومي.

همدا ډول د بازار خطر نه یوازې چټکه اغېز لرونکی خطر دی، بلکې د بازار خطر کېدای شي هره شېبه او هره دقیقه ګواښ ورپیښ کړي، خو د پانګونې د ځانګې دوامداره سوداګرۍ کولای شي په چټکۍ سره د بازار د خطرونو ګواښ راکم کړي. په حقیقت کې، د دې لپاره چې د پانګونې مدیران د چټکه اغیز لرونکو خطرونو له کواښ سره مخ نه شي، باید بانکونه له ځنډ پرته تنظیم کړي او بانک ته متوجې ټولیزه خطرونه/ ګواښونه په اغیزناکه توګه په ګوته کړي.

د دې ترکیب لپاره دوه اړخونه شتون لري. له یوې خوا، کولای شي دواړه بانکي ځانګه او ټولیزه اداره ګټه پورته کړي.

همدا ډول د پانګې اچونې د ځانګې اټکل شوې ګټې کولای شي د ادارې د

»

ټولیزه عوایدو په تنوع کې مرسته وکړي، خو د پانګونې ځانګې د ګټو یوه برخه کولای شي د بانک د ټولیزه پانګې کچه زیاته او بانک د پانګې د خوندیتوب له امله په ځان بسیا کړي چې دا کار دواړه ( بانکي او د پانګې اچونې) ځانګې له ګواښونو/ زیانونو څخه ساتي. سربېره پر دې، د سوداګرۍ د چټکه اغیز لرونکي خطر د څرنګوالي په پام کې نیولو سره، د پانګونې د ځانګې ګټې ښایي د بانکي ځانګې د ګټو په پرتله څو برابره زیاتې وي چې دا کار د یوې ادارې د پانګې راټولیدلو (زېرمه کولو) ته لاره هواروي.

د پانګې اچونې ځانګه کولای شي د بانکي برخې په ګډون له ټولو ادارو سره مرسته او د ټکتانې نرخ د خطر پر وړاندې له دې ادارو څخه ساتنه وکړي، خو بانکي ځانګه (سوداګري) د ټکتانې نرخ د پام وړ خطر له ګواښ سره مخ ده، ځکه چې بانکونه د لنډې مودې لپاره پور اخلي او د اوږدې مودې لپاره پور ورکوي.

دا پدې معنی ده چې د ټکتانې د نرخ په خطر کې بدلون په ځانګړې توګه زیاتوالی نه یوازې د بانک عواید کموي، بلکې د بانک د پانګې ارزښت هم راټیټوي. بانکونه د ټکتانې نرخ د خطر د کمولو لپاره محدوده میتودونه په لاس کې لري چې دا کار بانکونه د خطر له ګواښ سره مخ کوي.

خو په دې برخه کې شدیده احتمالي منفي اړخونه هم شتون لري. د پانګونې ځانګې مدیران کولای شي د بانکي ځانګې له ورو اغیز لرونکي خطر څخه ګټه واخلي. که چېرې د پانګونې د ځانګې خطرونه له حده زیات شي، نو دا برخه به زیاته ګټه ترلاسه کړي.

له همدې امله، هغه بانکونه چې ورو اغیز لرونکي اعتباري خطرونه او د بازار چټکه اغیز لرونکي خطرونه سره ګډوي، د هغو بانکونو په پرتله ډېر زیانمن کېږي چې دا خطرونه سره نه ګډوي. دا کار د یو نړیوال بانک په لوړ پوړو مدیرانو پورې اړه لري څو د ټولې ادارې ټولیزه ګټې په پام کې ونیسي او ډاډ ترلاسه کړي چې د دواړو بانکي ځانګې او د پانګونې د ځانګې مدیران یوازې په احتیاطي خطرونو عمل کوي.

د دې بانکونو لوی اجرائیوي مدیران کولای شي دا ستونزې د پانګونې ځانګې لپاره د یو ښه مدیر د ګمارلو له لارې حل کړي. خو په دې برخه کې قانون جوړونکي مهم رول لري. د نړۍ په کچه بانکي قانون جوړونکي د مالي ادارو د ډله بندۍ لپاره یو ډول واحد سیستم تعقیبوي چې د نورو مسائلو ترڅنګ نه یوازې د بانک د مدیرانو په تخنیکي وړتیاوو بلکې د دوي په شخصیت باندې هم ټینګار کوي.

د بانکي څارنې په پروسه کې د مدیریت په کیفیت باندې تمرکز د بانک د مدیریتي ټیم په ټاکلو کې قانون جوړونکو ته توانایي ورکوي. نو له همدې کبله، بانکي څارونکي کولای شي د نړیوالو بانکونو له اجرائیه رئیسانو څخه وغواړي، څو د پانګونو ځانګې لپاره داسې مدیران غوره کړي چې په کافی اندازه محتاطه او هوښیاره وي. په هر حال، د پانګونې د مدیرانو د احتیاط په اړه د قضاوت کولو لپاره د څارنې د واقعي معیار موندل ښایي ډېر ستونزمن او د بحث وړ وي.▣

ژباړل شوې له:

Finance & Development March 2017



# راغورېدلي اقتصادونه

## د چين اقتصاد

د چين كورنی ناخالصه توليد د تيرې ربعې په څير د ۲۰۱۷ زيږديز كال په دويمه ربعه كې (كال په كال) ۶.۹ سلنه زيات شوي دي، حال دا چې د ۲۰۱۷ كال په دويمه ربعه كې د دې هېواد كورنی ناخالصه توليد (ربعه په ربعه) ۱.۷ سلنې چې د تيرې ربعې د ۱.۳ سلنې په پرتله زياتوالی ښكاره كوي. د ۲۰۱۷ زيږديز كال په لومړی نيمايي كې د چين كورنی ناخالصه توليد ۶.۹ سلنه زياتوالی موندلی. د كال په كال شمېرو پر بنسټ، د ۲۰۱۷ زيږديز كال په دويمه ربعه كې د صنعت سكتور ۶.۵ سلنه وده په ګوته كوي، حال دا چې په لومړی ربعه كې د دې سكتور وده ۶.۶ سلنه ثبت شوې وه. همدا ډول د دې هېواد توليدي سكتور د تيرې ربعې د ۷.۱ سلنې په پرتله په دويمه ربعه كې ۷.۰ سلنې ته وده كړې ده. د دې هېواد ودانيز سكتور په دويمه ربعه كې ۵.۳ سلنه وده ښكاره كوي، حال دا چې دې سكتور په تيره ربعه كې ۵.۴ سلنې ته وده كړې وه.

ګراف: د چين د كورني ناخالصه توليداتو د ودې نرخ، ۲۰۱۵ لومړی ربعه ـ ۲۰۱۷ دويمه ربعه

د چين د كورني ناخالصه توليد د ودې نرخ ( ربعه په ربعه) د موسم پر اساس عيار شوي د سلنې بدلونونه




سرچينه: د چين د احصائيي ملي اداره

د چين د مصرفي توكو بيې د ۲۰۱۷ كال په جون مياشت كې ۱.۵ سلنه (كال په كال) لوړې شوې دي. همدا ډول د دې هېواد په لويو ښارونو كې د مصرفي توكو بيې ۱.۷ سلنه او په كليوالي سيمو كې د مصرفي توكو بيې ۱.۰ سلنه زياتې شوې دي. د دې هېواد د خوراكي توكو او ناخوراكي توكو بيې په ترتيب سره ۱.۲ سلنه او ۲.۲ سلنه راكمې شوې دي. د مصرفي توكو بيې ۰.۶ سلنه او د خدمتونو بيې ۳.۰ سلنه زياتې شوې دي. په اوسط ډول د توليزه مصرفي توكو بيو د تير كال د ورته دورې په پرتله د ۲۰۱۷ زيږديز كال په لومړی نيمايي كې ۱.۴ سلنه زياتوالی موندلی دی.

د چين د ښاري د بېكارۍ نرخ د ۲۰۱۷ زيږديز كال په دويمه ربعه كې ۳.۹۵ سلنې ته رسيدلی چې د ۲۰۰۲ كال له دريمې

»

ربعې راهیسې تر ټولو ټیټ نرخ په ګوته کوي. د ۲۰۱۷ زېږدیز کال په لومړۍ ربعه کې د ښاري اوسیدونکو د بېکارۍ نرخ ۳.۹۷ سلنه ثبت شوی دی. د ۲۰۱۷ زېږدیز کال په لومړۍ ربعه کې چین په ښاري سیمو کې ۷.۳۵ میلیونه نوې دندې رامنځ ته کړې دي چې د تیر کال د ورته دورې په پرتله ۱۸۰،۰۰۰ دندې زیاتوالی ښکاره کوي.

د چین د سوداګرۍ بیلانس د ۲۰۱۷ زېږدیز کال په جون میاشت کې ۴۲.۷۷ میلیارده امریکایي ډالره ډېریدنه ثبت کړې ده، حال دا چې په تیره میاشت کې د دې هېواد سوداګریزه ډېریدنه ۴۰.۸ میلیارده امریکایي ډالرو ته رسیده. په مارچ او اپریل میاشتو کې سوداګریزه ډېریدنه په ترتیب سره ۲۳.۹ میلیارده امریکایي ډالره او ۳۸.۵ میلیارده امریکایي ډالره ثبت شوې ده، خو د فبرورۍ په میاشت کې دې هېواد ۹.۸ میلیارده امریکایي ډالره سوداګریز کسر ثبت کړی دی. د ۲۰۱۷ زېږدیز کال په جنورۍ میاشت کې د چین سوداګریزه ډېریدنه ۵۰.۲ میلیارده امریکایي ډالرو ته رسیږي.

**د هند اقتصاد**

اټکل کیږي چې د هند کورني ناخالصه تولید د تیر کال د ورته دورې په پرتله د ۲۰۱۷ زېږدیز کال په دویمه ربعه کې ۵.۷ سلنه زیاتوالی ولري. د اټکلونو پر بنسټ، په دوېمه ربعه کې د کرنې، ځنګلونو او کب نیونې سکتورونو ۲.۳ سلنه وده کړې ده، حال دا چې په همدې ربعه کې کان او د کان کیندنې سکتور منفي ۰.۷ سلنه وده ثبت کړې ده. همدا ډول په همدې ربعه کې برېښنا، غازو، اوبو او د داسې نورو خدمتونو ۷.۰ سلنه وده موندلې ده. د ۲۰۱۷ زېږدیز کال په لومړۍ ربعه کې د هند کورنی ناخالصه تولیدات ۶.۱ سلنه زیات شوی دی. په لومړۍ ربعه کې د دې هېواد د کرنې، ځنګلونو او کب نیونې سکتور ۵.۲ سلنه، د کان او کان کیندنې سکتور ۶.۴ سلنه او تولیدي سکتور ۵.۳ سلنه زیاتوالی موندلی دی، حال دا چې ودانیز سکتور منفي ۳.۷ سلنه وده کړې ده. همدا ډول برېښنا، غاز، اوبه او داسې نور خدمتونه ۶.۱ سلنه زیات شوي دي. د هند د مصرفي توکو د بیې شاخص د ۲۰۱۷ زېږدیز کال په دویمه ربعه کې ۲.۲ سلنه زیاتوالی په ګوته کوي. د غونډ پلورنې د بیو د شاخص پر بنسټ، د خوراکي توکو بیې ۱.۷ سلنه راکمې شوې، حال دا چې د تېر کال د ورته ربعې په پرتله د کاني موادو بیې ۵.۵ سلنه، د تولیدي محصولاتو بیې ۲.۶ سلنه، د برېښنا بیې ۰.۷ سلنه او د ټولو توکو بیې ۲.۳ سلنه لوړې شوې دي. همدا ډول د ۲۰۱۷ زېږدیز کال په لومړۍ ربعه کې د مصرفي توکو بیې ۳.۶ سلنه زیاتې شوې دي. د غونډ پلورنې د بیو د شاخص پر بنسټ، د خوراکي توکو بیې ۲.۲ سلنه، د تولیدي محصولاتو بیې ۳.۲ سلنه، د برېښنا بیې ۳.۳ سلنه، د کاني موادو بیې ۷.۲ سلنه او د نورو توکو بیې ۵.۰ سلنه زیاتې شوې دي. د ۲۰۱۷ کال په جنورۍ کې د هند سوداګریز کسر ۹.۸۴ میلیارده امریکایي ډالره ثبت شوی، حال دا چې په فبرورۍ میاشت کې سوداګریز کسر ۸.۸۹ میلیارده امریکایي ډالرو ته راښکته شوی دی. خو په مارچ کې بیا سوداګریز کسر ۱۰.۴۴ میلیارده امریکایي ډالرو ته لوړ شوی دی. سربېره پر دې، په اپریل میاشت کې سوداګریز کسر په چټکۍ سره ۱۳.۲۵ میلیارده امریکایي ډالرو ته زیات شوی او په دوامداره توګه په مې میاشت کې ۱۳.۸۴ میلیارده امریکایي ډالرو ته لوړ شوی دی. همدا ډول سوداګریز کسر په جون میاشت کې لږ څه کموالی ښکاره کوي او ۱۲.۹۶ میلیارده امریکایي ډالرو ته رسیږي.

ګراف: د هند د کورنی ناخالصه تولید د ودې کلنی نرخ، د ۲۰۱۴ کال جولای ـ د ۲۰۱۷ کال جولای




سرچینه: د هند د احصائیې او د پروګرام د تطبیق وزارت

## د ترکیې اقتصاد

د ترکیې کورنی ناخالصه تولید د تېر کال د ورته مودې په پرتله د ۲۰۱۷ زېږدیز کال په دویمه ربعه کې ۵.۱ سلنه زیات شوی دی. د دې هېواد د کرنې سکتور ۴.۷ سلنه وده درلوده، حال دا چې د صنعت او ودانیز سکتورونو په ترتیب سره ۶.۳ سلنه او ۶.۸ سلنه وده کړې ده. د خدمتونو سکتور ۵.۷ سلنه وده ښکاره کوي. د دې هېواد د کلیزې پر اساس عیار شوی کورنی ناخالصه تولید ۶.۵ سلنه زیات شوی دی، حال دا چې د دې هېواد د موسم او کلیزې پربنسټ عیار شوی کورنی ناخالصه تولید د تیرې ربعې په پرتله ۲.۱ سلنه وده ښکاره کوي. د ۲۰۱۷ زیږدیز کال په لومړۍ ربعه کې د ترکیې کورنی ناخالصه تولید د تیر کال د ورته ربعې په پرتله ۵.۲ سلنه زیات شوی دی. په لومړۍ ربعه کې د دې هېواد د کرنې سکتور ۳.۲ سلنه زیاتوالی موندلی، حال دا چې د صنعت، ودانیز او د خدمتونو سکتورونه په ترتیب سره ۵.۳ سلنه، ۳.۷ سلنه او ۵.۲ سلنه وده ښکاره کوي. د کلیزې پر اساس عیار شوی کورنی ناخالصه تولید ۴.۷ سلنه زیات شوي، حال دا چې د موسم او کلیزې پر اساس عیار شوی کورنی ناخالصه تولید د تیرې ربعې په پرتله ۱.۴ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي.

ګراف: د ترکیې د کورنی نا خالصه تولید د ودې نرخ، ۲۰۱۵ لومړۍ ربعه - ۲۰۱۷ دویمه ربعه




سرچینه: د ترکیې د احصائیې انستیتوت

د ترکیې د انفلاسیون کلنی نرخ د تېرې میاشتې له ۱۱.۷۲ سلنې څخه د ۲۰۱۷ کال په جون میاشت کې ۱۰.۹۰ سلنې ته راښکته شوی دی، حال دا چې په اپرېل میاشت کې د انفلاسیون نرخ ۱۱.۸۷ سلنه ثبت شوی وو. په اوسط ډول د ۲۰۱۷ زېږدیز کال په دویمه ربعه کې د دې هېواد د مصرفي توکو بیې ۱۱.۵۰ سلنه لوړې شوي دي. همدا ډول د جنوري، فبروري او مارچ میاشتو لپاره د انفلاسیون کلنی نرخ په ترتیب سره ۹.۲۲ سلنه، ۱۰.۱۳ سلنه او ۱۱.۲۹ سلنه ثبت شوی دی. په اوسط ډول د ۲۰۱۷ زېږدیز کال په لومړۍ ربعه کې د دې هېواد د مصرفي توکو بیې ۱۰.۲۱ سلنه زیاتې شوي دي. په همدې ترتیب، د ۲۰۱۷ زېږدیز کال په لومړۍ نیمایي کې د ترکیې د مصرفي توکو بیې په اوسط ډول ۱۰.۸۶ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي.

د ترکیې د موسم پر بنسټ عیار شوی د بېکارۍ نرخ د ۲۰۱۷ کال په جون میاشت کې ۲۱.۹ سلنې ته رسیږي چې دا شمېره له تیرې میاشتې نرخ سره ورته والی لري، حال دا چې د ۲۰۱۷ کال په اپریل میاشت کې د دې هېواد د انفلاسیون نرخ ۲۱.۸ سلنې ته رسیده. همدا ډول د دې هېواد د بېکارۍ نرخونه د جنورۍ، فبرورۍ او مارچ میاشتو لپاره په ترتیب سره ۲۲.۶ سلنه، ۲۲.۱ سلنه او ۲۱.۷ سلنه ثبت شوي دي. په ورته وخت کې د ۲۰۱۷ زېږدیز کال په لومړۍ نیمایي کې د دې هېواد د بېکارۍ نرخ ۲۲ سلنې ته رسیږي.

د ترکیې د بهرنی سوداګرۍ د بیلانس ( د موسم او کلیزې پر اساس عیاري شوی) کسر د ۲۰۱۷ زېږدیز کال په دویمه ربعه کې ۱۷.۹ میلیارده امریکایي ډالرو ته زیات شوی دی، حال دا چې د دې هېواد د بهرنی سوداګرۍ کسر په تیره ربعه کې ۱۳.۳ میلیارده امریکایي ډالره ثبت شوی وو. د ۲۰۱۷ زیږدیز کال په لومړۍ نیمایي کې د ترکیې د بهرنی سوداګرۍ کسر ۳۱.۲ میلیارده امریکایي ډالره ثبت شوی دی.▣

ژباړل شوي له: Semi Annual Bulletin FY 1396

# اقتصادي خبرونه

## آمادگی برای آغاز پروژه تاپی در هرات گرفته شده است

قرار است کار عملی خط لوله انتقال گاز طبیعی ترکمنستان (پروژه تاپی) به کشورهای افغانستان، پاکستان و هند تا کمتر از دو هفته دیگر با حضور مقام‌های ارشد چهار کشور عضو، در ولایت هرات در غرب افغانستان افتتاح شود. در شهر هرات در غرب افغانستان در حال آماده شدن برای افتتاح پروژه تاپی است. خط لوله تاپی، گاز ترکمنستان را از حوزه "گالکینیش" در جنوب ترکمنستان از ولایت های هرات، هلمند، فراه و قندهار افغانستان گذشته به پاکستان و از آنجا به هند منتقل می کند.

مردم هرات در حال آماده کردن شهر برای مراسم افتتاح این پروژه در غرب افغانستان هستند. هرات اولین شهر افغانستان خواهد بود که از گاز ترکمنستان بهره خواهد برد. تاپی طرح توسعه‌ای حیاتی برای افغانستان به حساب می‌آید. با اجرای این طرح افغانستان سالانه پنجصد میلیون دالر درآمده خواهد داشت و بیش از ده هزار نفر صاحب شغل می‌شوند.

دولت افغانستان تلاش دارد که چهره دیگری از شهر هرات به میزبانانش نمایش دهد. بازسازی و نوسازی در بخش‌های مختلف شهر هرات جریان دارد. آمادگی‌ها در بخش‌های مختلف شهر در جریان است. مردم نسبت به این پروژه خوشبین هستند.

## افغانستان کې ۶۶ فیصده کارګري ښځې بزګري کوي

د کرنې په سکتور کې د افغانستان د ښځو د پیاوړتیا دویم ملي کنفرانس په کابل کې جوړ شو. د افغانستان لومړۍ میرمنې رولا غني په دغه کنفرانس کې وویل، د دې لپاره چې بزګرې ښځې په لویو سوداګریزو معاملو کې ګډون وشي کولی، باید حقوقي اسنادو ته لاسرسی وموميء. آغلې غني د کرنې په سکتور کې د افغانو ښځو ونډه مهمه بللې او له هغوی څخه یې پر ملاتړ ټینګار کړی. آغلې غني زیاته کړه چې د کرنې په برخه کې له ښځو سره د تخنیکي او مسلکي مرستو تر څنګ باید له هغوی سره د حقوقي اسنادو په برابرولو کې همکاري وشي. هغې وویل، چې اوسمهال د افغان کارګرو ښځو ۶۶ سلنه د کرنې په سکتور کې کار کوي او زیاته یې کړه "اړتیا ده چې حقوقي اسناد لکه، تذکره، د ځمکو د ملکیت سند، نکاح‌نامه د هغوی په واک کې ورکړل شي، ترڅو وکولای شي په لویو سوداګریزو معاملو او د بانکي پورونو په اخیستلو کې ګډون وکړي."

د افغانستان لومړۍ میرمنې د کرنې په سکتور کې د افغانو ښځو ونډه مهمه وبلله او په دې برخه کې یې له هغوی څخه پر ملاتړ ټینګار وکړ. د ملګرو ملتونو شمېرې ښکاره کوي، چې په افغانستان کې څه باندې ۶۰ سلنه ښځې د هویت اسناد یا تذکرې نه لري، چې په اکثرو مواردو کې د دغه سند د نه درلودلو له امله په مهمو مسئلو له ګډون کولو شاته پاتې کېږي.

د افغانستان د کرنې او مالداری وزارت چارواکو په وینا، چې په راتلونکي لمریز کال کې به د کروندګرو ښځو لپاره یو لړ مهمې

«

پروژې عملي کړي. د کرنې وزیر نصیر احمد دُراني هم ویلي، په دغه کال کې به شنځو ته ۲۷۴۰۰ کورنۍ باغچې، ۱۰۳۰ شنې خونې، د مرخیړو د کرلو ۱۰۰ کروندې او د چرګانو 17216 فارمونه جوړ کړي. ښاغلي دُراني زیاته کړه، چې په دې موده کې به د شاتو د مچیو ۶۰۰ صندوقونه او د غذایي موادو د پروسس ۲۱ دستګاوې پر ښځو وویشل شي او دغه راز د هرات د کروندګرو ښځو لپاره به د میوو د پروسس ۱۲ مرکزونه په دغه ولایت کې جوړ شي. د افغانستان د کرنې او مالدارۍ وزارت د شمیرو له مخې، دغه وزارت په کابل او ولایتونو کې د کروندګرو ښځو لپاره نږدې ۵۲ زره کورنۍ باغچې جوړې کړي، شاوخوا ۴۸ ښځو ته یې کرنیز وسایل ورکړي دي او له کرنیزو وسایلو څخه د استفادې لپاره یې ښځو ته ۲۳ روزنیز مرکزونه جوړ کړي دي.

امریکا غږ راډیو: سلواغه ۲۱، ۱۳۹۶

په روان کال کې له کندهاره ۳۰ زره ټنه انار بهر ته صادر شوي

د کندهار ولایت د کرنې او مالدارۍ ریاست په وینا روان کال کې د هند او پاکستان په ګډون بېلابېلو هېوادونو ته له دغه ولایت څخه ۳۰ زره ټنه انار صادر شوي دي.

د دې اداري رئیس سید حفیظ الله سیدی له رسنیو سره په مرکه کې ویلي دي په روان کال کې د انارو محصولات شاوخوا ۱۱۰ زره ټنه وو چې ۳۰ زره ټنه یې بهرنیو هېوادونو ته صادر شوي او پاتې نور یې په هېواد کې دننه په مناسبه بیه پلورل شوي دي.

د معلوماتو له مخې تېرکال د انارو د صادراتو کچه ۲۰ زره ټنه وه. خو تر ډیره بریده اوسمهال دغه صادرات د کابل ـ ډهلي هوایي دهلېز له لارې شوي چې ګټه یې هم د نورو کلونو په پرتله ډېره وه.

د کندهار ولایت د کرنې او مالدارۍ ریاست وایي، په روان کال کې یې د حاصلاتو کیفیت ډېر ښه وو، نو په همدې دلیل یې ښه بازار او بیه لرله.▣

---

سرچینه:

۲۴ دلو ۱۳۹۶: بي بي سی

آزادي راډیو،۲۲ /۱۳۹۶/۱۱

# چگونگی طراحی بازار حامی فقرا و نقش آن در فقرزدایی

فقر زدایی و توانمند سازی فقرا علاوه بر دسترسی به زیرساخت های مانند آموزش، صحت، سرک، برق و ... نیازمند اصلاح نظام اداری، حقوقی، قضایی و اصلاح نقایص بازار می باشد. بناءً لازم است تا عصر تازهٔ را در خصوص سیاست گذاری فقرزدایی و تلاش در راستای تحقق فراگیر آن آغاز نمود.

در این عرصه دولت ها و بازارها می توانند حامی یا دشمن فقرا باشند، دولت های نا کارا و بازارهای نا شفاف دشمن فقرا اند. بنا بر این سالم سازی دولت و بازار، بزرگترین خدمتی است که می تواند در کاهش فقر نقش اساسی را ایفاء نمایند. دولت های که به فکر توانمند سازی فقرا هستند، آنها به اصلاح نظام های اجرایی و قضایی خود اقدام نموده اند.

طراحی بازار فقرا از لحاظ مفهوم و تطبیق بسیار پیچیده می باشد، زیرا فقرا نمی توانند از بانکها تسهیلات بانکی اخذ نمایند، آنها اولاً دارایی ندارند، اگر دارند هم فاقد ثبت رسمی می باشد. از طرف دیگر آنها نمی توانند محصولات خود را به قیمت مناسب به بازار ها عرضه نمایند.

تولید کننده‌گان فقیر در برابر تأمین کننده‌گان مواد، توانایی قدرت چانه زنی را ندارند و از طرف دیگر به علت ناتوانی اقتصادی نمی توانند مهارت های فنی نیروی انسانی خود را بالا ببرند، بناءً در چنین وضعیتی فقرا از بازار حذف می گردند.

لازم است تا دولت ها به همکاری فقرا نهادهای را طراحی نمایند، که فقرا بتوانند در صحنهٔ رقابت خوب بدرخشند و یا هم حد اقل از بازار حذف نشده و به درآمد و مزیت پایدار دست یابند.

هندوستان و چین با استفاده از روش بازار حامی فقرا صنعت لبنیات خود را چنان متحول ساختند که به آن لقب انقلاب لبنیات داده شد. دهاقین کم درآمد در این دو کشور معمولاً یک یا دو فارم شیری دارند، ولی آنها نمی توانند خوراک و ادویهٔ فارم های خویشرا به شیوهٔ درست تهیه و خریداری نمایند، این دهاقین در توزیع شیر هم با مشکلات عدیدهٔ مواجه بودند، زیرا کارخانجات لبنیات نمی توانستند از کیفیت شیر آنها مطمئن باشند.

این دو کشور در روستا های شان مراکز برای نگهداری فارم شیری ایجاد نمودند، دهاقین فقیر هم فارم های شان را به این مراکز تحویل دادند، آنها بدینوسیله از کار های پر مشقت و درد سر ساز تربیهٔ فارم های شان نجات یافتند. در این سیستم کارخانه داران نیز بجای چانه زنی با تعدادی فارمداران با مرکز های نگهداری فارم قرار داد عقد می نمودند که دارای آزمایشگاه های کنترول کیفیت و مراقبت سلامت شیر بودند.

از طرف دیگر در مراکز نگهداری می توانستند خوراک، تجهیزات و ادویهٔ آنها را به قیمت مناسب دریافت نمایند، در نتیجهٔ این هماهنگی میان بازی گران مختلف بسیاری از تهی دستان و فقرای دهاقین فارمدار را از تنگدستی نجات داده و تحول عظیمی را در صنعت لبنیات در این دو کشور به وجود آورد.

جاپان بیش از سایر کشورها در بخش بازار حامی فقرا فعالیت ارزندهٔ را انجام داده است که بطور نمونه می‌توان از صنایع فولاد در این کشور نام برد. صنایع و استخراج فولاد در این کشور تا سال ۱۹۶۰ فاقد مزیت بود.

در این وقت دولت صنعتگران بخش خصوصی را در این عرصه بدور خود جمع نمود و علت پائین بودن کیفیت و بالا بودن قیمت فولاد را که مزیت همه صنایع جاپان به آن نهفته بود، مورد بررسی قرار داد. در آن زمان مصارف استخراج فولاد به علت تولید کم بسیار بالا بود، جهت افزایش استخراج فولاد و دست یافتن به مقیاس بزرگ باید سرمایه گذاری کلانی صورت می گرفت، اما در آن وقت هیچ گونه اطمینانی وجود نداشت که اگر استخراج رشد می کرد، قیمت آن پایدار می ماند و همچنان این ترس نیز وجود داشت که با افزایش تولید خریدار از قدرت چانه زنی خود استفاده کرده قیمت فولاد را کاهش دهد. در این وقت دولت جاپان نقش خوبی را در مورد صنعت تولید فولاد ایفاء نمود و آن اینکه دولت جاپان یک برنامهٔ چند بخشی بزرگی را برای فولاد بوجود آورد، در این صورت صنعت استخراج و تولید آن یک برنامهٔ مشترک تولید را طراحی و آنرا به اجراء در آورد.▣

منابع:


۱. https://www.mcls.gov.ir عنوان: توانمند سازی و کاهش فقر / کتاب مرجع بانک جهانی / ویراستار دیپا نارایانی – مترجمان / فرزام پور اصغر سنگاچین و جواد رمضانی – نوبت چاپ ۱۳۹۵

۲. http://www.ettelaat.com / عنوان: پول شویی در اقتصاد، مبانی و آثار عوام گرایانه، خط قرمز اقتصاد/ تاریخ نشر ۱۱میزان ۱۳۹۶

۳. http://article.irna.ir عنوان: راهکار حل دراز مدت مسالهٔ اشتغال و فقر چیست؟ / نویسنده: عیسی منصوری – تاریخ نشر ۱۴/۵/ ۱۳۹۶

# آشنایی با تعدادی از سازمان ها و بانک های بین المللی

بعد از سپری شدن جنگ جهانی اول که باعث بروز مشکلات عدیدۀ اقتصادی و فلج تجارت جهانی شده بود ، دو مکتب به میان آمد. آنها سعی و تلاش داشتند تا اقتصاد جهان را سرو سامان بخشند. یکی از آنها مکتب نیو لیبرالیزم که امریکا آنرا ترویج می نمود و دیگری برنامۀ تفکرات اقتصادی کینز بود که توسط انگلیس ها تبلیغ می گردید.

این دو کشور بعد از ختم جنگ جهانی دوم، از نگاه اقتصادی موقف بهتری داشته و از همین جهت در صدد ثبات پولی شدند.

امریکا در سال ۱۹۴۳ میلادی طرحی را بنام طرح وایت یا ( سفید) پیشنهاد کرد که درآن از صندوق تثبیت پول ملل متحد با مشارکت سایر کشور های جهان یاد آوری گردیده بود. در مقابل چند ماه بعد انگلستان طرحی را بنام طرح کینز منتشر ساخت و در آن پیشنهاد شده بود تا اتحادیۀ تهاتر پول بین المللی ایجاد شود. آنها سرانجام به توافق دست یافتند تا به نحوی به اقتصاد جهان کمک کنند.

متعاقباً امریکا و انگلستان در ۲۱ اپریل ۱۹۴۴ به ایجاد صندوق بین المللی پول توافق نموده و بر اساس دعوت رئیس جمهور وقت ایالات متحدۀ امریکا در موجودیت ۴۴ کشور مختلف جهان در بروتون وودز در نیو همیشایر توافقنامۀ ایجاد صندوق بین المللی پول را امضاء کردند و اساسنامۀ آن در ۲۷ دسمبر ۱۹۴۴ به تصویب رسید که پس از یک سلسله اجراآت مقدماتی و پروسه رسمیات در اول مارچ سال ۱۹۴۷ رسماً به فعالیت آغاز کرد.

اهداف عمدۀ صندوق بین المللی پول را نظارت بر سیاست های اقتصادی کشورهای عضو، همکاری بین‌المللی در بخش پولی، تثبیت مبادلۀ ارزی و تجارت بین‌المللی، تطبیق قوانین مربوط به سیاست های نرخ مبادلات ارزی میان کشور های عضو، افزایش ثبات ارزی، همکاری های مطلوب و همه جانبه، پرداخت وام به کشورهای عضو تشکیل میدهد. در ابتداء تعداد اعضای این صندوق به ۴۵ کشور می رسید، اما در حال حاضر تعداد آن به ۱۸۳ کشور عضو رسیده و مقر آن در واشنگتن‌دی سی می باشد.

تأسیس بانک جهانی یکی دیگر از توافقنامه های بود که طی کنفرانس پولی و مالی سازمان ملل متحد در برتون وودز تحقق یافته و متعاقباً عملی شد. این بانک شامل دو سازمان وام دهنده بنام های بانک ترمیم و توسعۀ بین المللی و مؤسسۀ بین‌المللی و سه سازمان دیگر کوچکتر بنام های شرکت های مالی بین الملل، مرکز بین المللی حل اختلافات سرمایه گذاری و شرکت بین المللی تضمین چند جانبۀ سرمایه گذاری تشکیل شده است.

گروه بانک جهانی در سال ۱۹۴۵ میلادی ایجاد شد که در حدود ۱۸۰ کشور جهان در آن عضویت دارند و سالانه در حدود ۲۰۰ میلیارد دالر کشور های عضو را تأمین مالی می کند و مقر این بانک در

»

واشنگتن دی سی می باشد. کشورهای که عضو این بانک نباشند، نمی توانند از این بانک تقاضای وام نمایند. این بانک بیشتر کشورهای عضو خود را در بخش های عمرانی و محیط زیست تأمین مالی می نماید.

مؤسسه بین‌المللی توسعه به کشور های قرض میدهد که درآمد سرانه آنها کمتر از ۷۳۰ دالر بوده و عملکرد اقتصادی درستی داشته باشند. این مؤسسه تا به حال بالغ بر ۳۳ میلیارد دالر وام اعطا نموده که بیشتر در زمینه زراعت و زیربنایی بوده است.

جهت مبارزه با فقر و بخاطر بهبود اقتصاد افریقا، بانک توسعه افریقا ایجاد گردید. هدف اصلی این بانک مبارزه با فقر و توسعه همه جانبه قاره افریقا است که به دولت های افریقایی کمتر قرض میدهد. این بانک بیشتر به شرکت های خصوصی فعال در عرصه اقتصادی قرض داده و برای زنان روستایی کمک می نماید و دوسوم موادغذایی‌افریقا را تأمین می کند. این بانک در کنار فعالیت های یاد شده کار آفرینان تجاری را نیز به منظور توسعه کار و بار شان حمایت مالی می نماید.

به مرور زمان و نظر به نیاز مندی، بانک های بین المللی یکی پی دیگر ایجاد گردیدند که یکی از آنها بانک توسعه آسیایی ASDF است. این بانک در قاره آسیا که ۳۳ درصد فقیرترین مردم جهان را دارا است، نقش مهمی را در کاهش فقر و توسعه یافتگی جوامع آسیایی به عهده دارد و بزرگترین تمویل کنندهٔ این بانک، جاپان می باشد. در بین کشورهای آسیایی کشورهای شرق آسیا بیشتر از سایر کشورهای آسیایی از منافع این بانک استفاده می کنند. همچنان بانک توسعه و باز سازی اروپا EBRD به هدف کمک به شوروی و کشورهای اروپای شرقی ایجاد گردیده و در حال حاضر ۵۸ دولت و اتحادیه اروپا و بانک سرمایه گذاری اروپا سهام دار این بانک هستند که سرمایه آن بالغ به ۲۵ میلیارد دالر می باشد.

بانک توسعه بین المللی امریکا IDB نیز یکی از قدیمی ترین بانک توسعه چند جانبه بوده و به هدف کمک به توسعه کشورهای امریکای لاتین و منطقه کارائیب در سال ۱۹۵۹ میلادی تأسیس گردید. در ابتداء این بانک دارای ۱۹ عضو بود، و در حال حاضر دارای ۴۶ عضو می باشد. هدف این بانک، کمک به توسعه زیر ساخت های کشورهای امریکای لاتین مانند توسعه خطوط انتقال نیرو ، آب آشامیدنی سالم، جاده سازی، کاهش فقر و کمک به محیط زیست می باشد.

باید گفت که یکی از بانکهای دیگر بین المللی، بانک تسویه بین المللی است که بانکداران مهم کشورهای صنعتی ۱۰ بار در طول سال در آنجا با یکدیگر ملاقات نموده و در خصوص سیستم مالی جهان نوسانات قیمت طلا و دالر بحث و تبادل نظر می نمایند. این بانک به تاریخ ۱۷ می ۱۹۳۰ تأسیس گردید. در ابتداء هدف از تأسیس آن تسهیل شرایط پرداخت غرامت آلمان به کشور های پیروز جنگ بود. در حال حاضر این بانک به عنوان بانکدار بانک های مرکزی دنیا شناخته شده و فقط در معامله و داد و ستد با نهادهای دولتی و بانک های مرکزی می پردازد.▣

عبدالحفیظ شاهین

منابع


1. www.eghtesadonlin.com / عنوان / سیستم تسویه بانکی بین المللی بر قرار شد / تاریخ نشر ۲۴/ ۱۰ /۱۳۹۵
2. http://www.refah-bank.irتاریخ نشر ۱۶/۷/۱۳۹۶
3. http://www.profit-loss.ir / عنوان / آشنایی با سازمان های پولی و مالی بین المللی / تاریخ نشر ۳۰/ ۳ ۱۳۹۴



# څه ډول، پیسې د سپما لپاره مدیریت کړو؟

خپلو مالي موخو ته د سپما کولو په وسیله ورسیږئ. ځکه ګڼ شمیر مالي وسیلې له تاسو سره مرسته کوي چې پوه شئ په کوم ډول خپلې پیسې مدیریت کړئ او له پخوانیو او سنتي فکرونو یا ذخیره کولو چې ښخول، په بکسونو یا بالښتونو کې ساتل ول، ترې خلاصون پیدا کړئ. یو له هغو لارو څخه چې کولای شي په سپما کولو کې مرسته وکړي، د سپما د حساب پرانېستنه ده چې له یوې خوا د تاسو پیسې خوندي کېږي او له بل پلوه کولای شي د سپما شویو پیسو له لارې خپلو موخو او هیلو ته ورسیږئ.

ځینې وخت تر ټولو سخترین کار د پیسو د ساتلو پیل وي. دا به یو ستونزمنه موضوع وي چې د سپما لپاره یې لارې مشخصې کړو او ساتل شوي یا سپما شوي پیسې د خپلو مالي موخو لپاره وکاروو. دلته څو هغه لارې چارې ښودل شوي چې د یوه پلان پر بنسټ د پیسو د سپما کولو او شمتن کیدو په برخه کې مرسته کولی شي:

**١. د ځان لپاره معاش وټاکئ**

ستاسو د بودجې د پلان لومړی کرښه باید سپما کول وي، وروسته له هر ډول عاید څخه ټاکل شوې یو اندازه پیسې سپما کړئ. که تاسو نشئ کولای دا ټاکل شوی مبلغ سپما کړئ او یا هم د سپما کچه لوړه وي او په پاتې پیسو ستاسو لومړنۍ اړتیاوې نه بشپړیږي نو بیا د سپما کولو مبلغ راټیټ کړئ، خو هیڅ کله له سپما کولو څخه واټن مه اخلئ. کله چې میاشتني عاید کې زیاتوالی راشي او یا هم کومه جایزه ترلاسه کړئ، نو نیغ په نیغه یې خپل سپما حساب ته ولیږئ.

تاسو کولای شئ تل، د سپماشویو پیسو له ټولګې څخه لس سلنه برداشت کړئ، خو ستاسو موخه او مفکوره باید دا وي چې هره اونۍ یا میاشت د خپل عاید ٢٠ سلنه سپما کړئ.

تاسو سپما له واقعي اندازې څخه پیل کړئ او که کولای شئ وروسته بیا ډیروالی ورکړئ. که چیرې تاسو د پیسو سپما کول له لویې اندازې څخه پیل کړل، اندیښنه مه کوئ او د اړینو چارو د ترسره کیدو لپاره پیسې له سپما شویو پیسو څخه واخلئ.

که چیرې د تاسو د هغې اداري له خوا چیرته چې تاسو کار کوئ، نیغ په نیغه د تاسو په مالي حساب کې پیسې زیاتیږي، نو تاسو ته اړینه ده چې د سپما لپاره له یوه بل مالي حساب څخه ګټه پورته کړئ. د ځینو بیړنیو لګښتونو لپاره تاسو پیسو ته اړتیا لرئ د سپما له حساب څخه پیسې مه ترلاسه کوئ چې خپل اړین توکي د سپما شویو پیسو په وسیله ترلاسه کړئ.

**٢. د لګښت او د سپما پیسې جلا کړئ**

آیا ستاسو سپما حساب د لګښت حساب څخه په جلا بانک کې شتون لري؟ په دې کار سره د یوه بانکي حساب څخه بل بانکي حساب ته د پیسو لیږدول ستونزمن وي او تاسو د سپما شویو پیسو لګولو لپاره لږه اړتیا پیدا کوئ.

د آنلاین او لوړو ټکټانو لرونکو سپما حسابونه پیدا کړئ، ځکه یوازې آنلاین بانکونه د لوړو ټکټانو د ورکولو سربیره هیڅ څانګې نه لري، نو د سپما کولو لپاره یوه ښه لاره ده چې ترې ګټه واخلئ.

د فزیکي موقعیت پرته، تاسو نشئ کولای چې د بانک یوې څانګې ته په ننوتلو سره پیسو ته لاسرسی ولرئ، چې په دې کار سره د سپما په حساب کې د سپما شویو پیسو ساتل په اسانه توګه ترسره کېږي.

د سپما حسابونو د ټکټانې نرخ په پراخه »

توګه توپیر لري، نو ځکه د خپلو اړتیاوو سره سم د سپما شویو پیسو د حسابونو لپاره ځیړنه وکړئ چې په آسانه توګه پیسې سپما کړئ او د لویې اړتیا پرمهال ترې ګټه پورته کړئ.

د لګښت پرمهال ډېر فکر وکړئ، ځکه په لګښت کې ګټه د سپما پرمختګ دی، نو تاسو د اړتیا پرمهال د ښې سپما لپاره په پېر او پلور کې له کره والي او دقت څخه کار واخلئ.

**۳. بیړنی سپما برخه جوړه کړئ**

ستاسو لومړنی موخه باید د بیړنی مبلغ په توګه د دری یا شپږو میاشتو په ارزښت د ژوندانه د لګښتونو جلا کول وي، ځکه دا بیړنی سپماوې هغه پیسې دي چې د تمې پرته لګښتونو، پېښو یا د د ندې د له لاسه ورکولو پرمهال ترې ګټه اخیستل کېږي. خو تاسو باید د دې سپماوو د ایستلو او لګولو مخکې د بیړنی حالت څخه ځان ډاډمن کړئ.

که چیرې مجرد یاست یا په کور کې ډوډۍ راوړونکی یوازې تاسو یاست، تاسو د شپږو میاشتو د ژوند لپاره لومړني لګښتونه ترسره کړئ او که تاسو دویم کس یا کور کې د لومړنیو لګښتونو نیمایې برخه پرې کوئ نو تاسو بیا د دریو میاشتو لپاره د ژوند د لومړني لګښتونه ترسره کړئ او دهغې پراساس د مالي پلان د بنسټ ډېره کېږدئ.

**۴. د ځانګړو موخو لپاره سپما وکړئ**

که تاسو خپله بیړنۍ بسپنه ولرئ، نو تاسو د ځانګړو موخو لپاره سپما ترسره کړئ، د رخصتۍ، واده، د لوړو زده کړو ترلاسه کولو او یانورو موخو پرته دا کار وکړئ، که څه هم د تاسو موخو څخه ځرګندېږي چې په اونۍ یا میاشت کې له تاسو سره مرسته کېږي چې خپلو مالي موخو ته ورسېږئ.

د تاسو سپما شوې پیسې د تاسو موخې له لومړنیو او عاجلو لګښتونو څخه جلا کوي او خپلې مالي موخې او پرمختګونه له ځان سره ساتئ. په بېلا بېلو مالي حسابونو کې د پیسو ساتل، په بېړنیو لګښتونو کې له ډوبېدو څخه مخنیوی کوي او په دې توګه تاسو په آسانه توګه خپلو موخو ته رسیدلی شئ.

**۵. د تقاعد لپاره سپما ترسره کړئ**

د تاسو د تقاعد یوه لویه برخه نیغ په نیغه ستاسو د کار له پلان سره سم د تقاعد په موخه زیرمه کېږي، ځکه دا د تاسو د تقاعد لپاره یو پروګرام دی چې د تاسو اداري له خوا ملاتړ کېږي. د تقاعد له مهال سره د خدمت کولو مرسته لړۍ ګڼل کېږي، څو د تاسو راتلوونکې لپاره یوه اندازه پیسې زیرمه کړي.

تاسو باید د دې وړتیا ولرئ چې د تقاعد له اندازې څخه ډېرې پیسې په بل مالي حساب کې زېرمه کړئ، په ځانګړي توګه هغه مهال چې تاسو تقاعد ته نږدې شوي یاست، ځکه په دې مهال باید د سپما کولو په اړه خطر ونه منئ. د سپما کولو د مالي حساب زیان ډېر لږ دی، خو د تقاعد لپاره د سپما کولو مفکوره عالي ده.

که تاسو په خپل کار کې د سپما لویه برخه ترلاسه کوئ او خپل دنده کې کوم پلان نه لرئ تاسو د دې وړتیا پیدا کړئ چې اضافي مرستې د سپما حساب ته ولېږدوئ. د عاید د اندازې لپاره له خپل مالي سلاکار څخه غوښتنه وکړئ او د سپما کولو په اړه مشورې ترلاسه کړئ.

سپما کول د تاسو د مالي حساب یوه برخه جوړه وي، ځکه مالي حساب د تاسو د مالي پلان د ګټې او تاوان لپاره لارې چارې برابروي چې په دې سره تاسو ته ځرګندېږي چې څه ډول مالي پرمختګ ولرئ او څه ډول خپلو مالي هیلو ته ورسیږئ، څو له تقاعد وروسته هم له احتیاجه پرته مالي آزادي ولرئ.

که څه هم له بیړنیو پېښو څخه د ساتنې لپاره تر ټولو مهمه کلي د بیړنیو مرستو ترلاسه کول دي، چې تاسو ژغوري لکه تاسو چې مرسته ترلاسه کړې وي. سپما وکړئ چې تاسو په رخصتیو کې خپلو هیلو ته ورسیږئ او یا هم واده چې ستاسو د مالي پلان یوه برخه ده په ښه صورت او پرته له پور څخه یې ترسره کړئ.▣

سرچینې:

/https://www.gobankingrates.com/

انلاین بانکداري، د مالي مدیریت کتاب، لیکونکی Karen Doyle September 18, 2017

https://search1.cnet.com/uk/content/tablets/best-tablets-with-fingerprint

انلاین بانکداري، د مالي مدیریت برخه، ۱۴ چپتر، ۱۷/۱۱/۲۰۱۷




**اطلاعیه د افغانستان بانک!**

مطابق ماده سی و سوم قانون د افغانستان بانک پول رایج و واحد پولی افغانستان افغانی است، بناً از عموم افغانها، دوایر و مؤسسات دولتی و خصوصی آرزومندیم تا در قرارداد ها و سایر معاملات و داد و ستد های شان از پول افغانی استفاده نماید.

افغانی، از با ثبات ترین پول های منطقه است که در ثبات برنامه ریزی های اقتصادی تان مثمر واقع می شود.

# بانک

ماهنامۀ د افغانستان بانک

سال یازدهم شماره ۱۲۸، دلو ۱۳۹۶

د افغانستان بانک

